


# روښانې لیکنې

لیکوال

حبیب الله رفیع

ارزاني پښتو ادبي ټولنه خویشکي (نوښار)

۱۹۸۹ع

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارزانی پښتو ادبي ټولنې خوږیشکی د مطبوعاتو سلسله (٦)

# روښانې لیکې

لیکوال
حبیب الله رفیع

ارزاني پښتو ادبي ټولنه خوږیشکی (ننګرهار)

۱۹۸۹ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب نوم: روښاني ليکني

د ليکوال نوم: حبيب الله رفيع

د کاتب نوم: سيد محي الدين هاشمي

د چاپېدو کال: ۱۹۸۷ع

د پريس نوم: جدون پريس پېښور

د چاپ شمېر:

بيه: ۱۵/- روپۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترون

د پښتو د تاند شاعر، تپاند لیکوال

او

د ارزانی خوېشکي د ادبي میراث پالونکی

ګران

عبدالله جان عابد خوېشکی

په

نوم

«ح - رفیع»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| | ۱ |
| [۱] د روښاني لیکنو موخه او هدف | ۲ |
| [۲] د روښاني لیکنو ارځښت او خصوصیت | ٤ |
| [۳] د روښاني لیکنو نایابي او کمیابي | ۸ |
| [٤] د روښاني لیکنو پېژندګلوي | ۱۰ |
| (۱) د روښان خپلې لیکنې او آثار | ۱۱ |
| ۱- پښتو رسم الخط | ۱۲ |
| ۲- صراط التوحید | ۱٤ |
| ۳- مقصود المؤمنین | ۱٦ |
| ٤- فخر الطالبین | ۱۷ |
| ۵- خیر البیان | ۱۸ |
| ٦- حالنامه | ۲۱ |
| ۷- د روښان یو نوموړی تألیف | ۲۳ |
| ۸- مکتوبات | ۲٤ |
| ۹- واجیدی شلوك | ۲۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرلیک | مخ


| | |
|---|---|
| ۱۰- د روښانیانو شعرونه | ۲۶ |
| ۱۱- سرودونه | ۲۸ |
| ۱۲- فرحت المجتبیٰ | ۲۹ |
| (۹) - خوریان | ۳۰ |
| (۲) روښان ټولی لیکني | ۳۱ |
| ۱۳- رساله غوثیه | ۳۱ |
| (۳) د روښان د پیروانو لیکني | ۳۳ |
| (۱) ارزانی | ۳۳ |
| ۱۴- د ارزاني د پښتو دیوان | ۳۵ |
| ۱۵- د ارزاني بې نومه مجموعه | ۳۸ |
| ۱۶- د حضرت رسول خوب | ۳۹ |
| ۱۷- د ارزاني نثر | ۴۰ |
| ۱۸- څلور رما | ۴۱ |
| ۱۹-۲۰-۲۱- د ارزاني عربي، فارسي او هندي شعرونه | ۴۲ |
| ۲۲- د ارزاني مکتوبات | ۴۳ |
| (۲) ملا عمر | ۴۴ |
| ۲۳- د ملا عمر شعرونه | ۴۵ |
| (۳) علي محمد | ۴۵ |
| ۲۴- د علي محمد شعرونه | ۴۶ |
| (۴) میرزاخان انصاري | ۴۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| سرلیک | مخ |
|---|---|


| | |
|---|---|
| ۲۵- د میرزاخان انصاري دېوان | ٤٧ |
| (۵) دولت لواڼی | ٤٩ |
| ۲۶- د دولت دېوان | ٤٩ |
| (٦) علي محمد مخلص | ۵۰ |
| ۲۷- حالنامه | ۵۱ |
| ۲۸- د علي محمد مخلص دېوان | ۵۲ |
| ۲۹- رساله | ۵۲ |
| (۷) واصل روښاني | ۵۳ |
| ۳۰- د واصل پښتو دېوان | ۵۳ |
| ۳۱- د واصل الفنامې | ۵٤ |
| ۳۲- د واصل دري شعرونه | ۵٤ |
| (۸) خواجه محمد روښاني | ۵۵ |
| ۳۳- د خواجه محمد شعرونه | ۵۵ |
| (۹) کریمداد | ۵٦ |
| ۳٤- د کریمداد پښتو شعرونه | ۵۷ |
| ۳۵- د کریمداد پارسي شعرونه | ۵۷ |
| (۱۰) قادرداد روښاني | ۵۸ |
| ۳٦- د قادرداد شعرونه | ۵۸ |
| (۱۱) اورکزی | ۵۹ |
| ۳۷- د اورکزي شعرونه | ٦۰ |

# افتتاحیه

د ازاني پښتو ادبي ټولنې خویښکي په منشور کې دا خبره هم لیکلې شوې ده چې ټولنه به دا کوشش کوي چې تر خپله وسه د پښتو ادب په لمنه کې د هر قسمه ادبي، تاریخي، تحقیقي، مذهبي، عصري او ساینسي علوم او فنون راځای‌بوي، او د دې لړکې به د ټولنې د ملګرو نه علاوه بهر د پښتنو عالمانو او ادیبانو د علمي استعداد نه پوره-پوره فائده اوچتوي.

د ازاني پښتو ادبي ټولنې د پاره دا ډېره د فخر او ناز خبره ده چې د دې لړکې موږ د ټولو نه اول د برې او کوزې پښتونخوا د پښتو ژبې د یوه زلمي، زیارکښ، معتمد، مایه ناز او قدرآور څېړوال ښاغلی حبیب الله رفیع ورډګ یوه رساله "روښاني لیکنې" کومه چې هغوی په افغانستان کې د بایزید انصاري د یاد په لړکې په یو نړیوال سیمینار کې وړاندې کړې وه، خپروو.

د دې لړکې ازاني پښتو ادبي ټولنه د حبیب الله رفیع صیب نه د دې پېرزوینې ډېره ډېره مننه کوي او امید لري چې د پښتو ژبې او ادب نور عالمان او محققین به د رفیع صیب په تقلید کې زموږ سره به د حوصله افزائي وکړي.

موږ د پښتو ژبې او ادب د مینانو او لوستونکو نه هم دا توقع لرو چې هغوی به زموږ د دې کار او رسالې ته په درنه سترګه وګوري او مخ په وړاندې د تلو هڅه به راکړي.

والسلام

پرویز مهجور خویښکی

صدر

ازاني پښتو ادبي ټولنه خویښکی ۲۳ اکتوبر ۱۹۸۶ء



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

روښان پیر (۹۳۱-۹۸۳هـق) په ځپل دیني، ملي او سیاسي غورځنګ کې د ډېر زېور او سرتېري ملګري درلودل چې له دوی څخه ارزاني روښاني تر بایزید راوروسته دي چې دوهم مشر وُ او د روښاني تصوف په بشپړتابه او روښانتابه کې یې پاخه او ښو رڼاګامونه اوچت کړي دي.
ارزاني روښاني د پښتو ادب د موجود و تحریري اسنادو په رڼا کې دی چې یا هم لري چې د ده دیوان د پښتو لومړنی لاس ته راغلی بشپړ دیوان دی او له ده نه دا سلسله راپیلېږي.

نه د خوښکو درنو ادبي ملګرو ته مبارکي وړکوم چې د پښتونخوا د دې لوی روحاني، سیاسي او ادبي شخصیت -

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نامه د ژوندي کولو له پاره یې د ده په نوم ادبي ټولنه جوړه کړې او په غونډو، مڼلو او نورو ادبي هلو ځلو سربېره د دې ټولنې له خوا ادبي کتابونه او د کلاسیک او نوي ادب مجموعې او تذکرې هم خپروي.

زه دوی ته په دې هم مبارکي وړاندې کوم چې د «ارزاني خوېشکی» په یاد د یوې ښېړن غونډې (سیمینار) تابیا هم لري او په دې سلسله کې کتابونه هم خپروي.

دوه لس کاله وړاندې د آزاد افغانستان په مرکز کابل کې د بایزید روښان او روښانیانو په باره کې یو لوی نړیوال (عالمي) کنفرانس جوړ شوی و، له نېکه مرغه ما هم په دې سیمینار کې علمي غړیتوب درلود او د «روښاني لیکنې» تر عنوان لاندې مې علمي رساله ورته لیکلې وه، چې په کنفرانس کې واورول شوه، دفاع ترې وشوه او بیا لومړی د «آریانا» په تاریخي مجله کې او وروسته په هغه کتاب کې چې د «روښان یاد» په نامه و، او د ترتیب او اهتمام افتخار یې نما په غاړه و، خپره شوه، اوس مو تصمیم درلود چې د سیمینار ټولې مقالې بیلې- بیلې په کتابي بڼه هم خپرې کړو، نو ځکه مو په کتاب سربېره د امقالې د بېلو بېلو جزوو په بڼه هم چاپ کړې، خو د نا وړه حالاتو له امله هماغلته په مطبعه کې پاتې شوې او نشر نه شوې.

تقدیر داسې ټېره کړې وه چې نن ما د دې مقالې (ځانګړې) خپرول د ارزاني خوېشکي ادبي ټولنې له خوا تر سره شي، هداوو-

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دوی له مانه داړن اني خوېشکي د سمينار له پاره رساله وغوښته او ما هم د دې متل په مصداق چې: «تيار د ياره» د روښاني ليکنې رساله ورته وړاندې کړه.

ما دا رساله داسې وخت ليکلې چې د روښانيانو ډېر آثار لا په لاس کې نه وو، نو ځکه مې اوس بيا نوې منظر پېړې وکړه او په دې برخه کې نوي موندل شوي مواد مې پرې اوږ زيات کړل خو له دې ټولو سره سره بيا هم اعتراف کوم چې زما دا کار لا نيمګړی دی، اما په دې چې په دې لاره کې لومړی قدم دی زړه ډاډه کوم او په همدې ډاډ يې د رڼو لوستونکو مخې ته ږدم، د تېروتنو بخښنه غواړم او د اړن اني خوېشکي ادبي ټولنې ته يې د «برګ سبز تحفهٔ درويش» په بڼا وړاندې کوم. خوښې - تاسو د رڼو لوستونکو او علاقمندانو ته ورسوي.

په مينه

ح - رفيع

پېښور، کوز تاکال

۱۰/۷/۱۳۶۵ش/۱۹۸۶ع/۱۰/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم

په دې کوچنۍ اثر کې موږ تاسې ته د روښاني ادبي مکتب- هغه آثار په لنډ ډول در پېژنو چې تراوسه پاتې، پېژندل شوي او زموږ لاسونو ته رارسېدلي دي.

داسې ښکارې چې د زمان توندو بادونو د دې ادبي- ګلزار ډېر تاند ګلونه شو په شو کړي او له بې رحمه سېليو سره وړي دي او پاتې هم د ورکې غېږې ته سپارلي چې د لټون انتظار باسي.

موږ دا هم غنيمت ګڼو او په لنډ ډول تاسو درانه لوستونکي ورسره اشنا کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[۱]

# د روښاني ليکنو موخه او هدف

په دې خبره ټول مؤرخين يوه خوله دي چې د روښانيانو د مبارزې موخه او هدف د پښتنو ملي خپلواکي او ملي حاکميت ترلاسه کول او د دې سيمې ملت له غاړې نه د استعمار د ژغ‍ـ لرې کول وو، خو د دې سياسي ډګر په څنګ کې دوی د ادب او عرفان په ډګر کې هم سرلاري وو او د کار ابتکار يې په لاس کې و، دوی سربېره پر دې چې د تصوف تر ويښته نرۍ مسائلې څېړلې دي، په خپلو ليکنو کې يې خپله ملي موخه او هدف هم تعقيب کړی دی او پښتانه يې دې ته هڅولي چې يو ملي حکومت او مرکز ولري.

پير روښان داسې وخت په نړۍ سترګې وغړولې چې په هند کې د پښتنو لوديانو ټولواکي له منځه تللې وه او د بابر له خوا چې د ډيلي پرتخت ناست و، پښتانه له هنده ايستل کېدل او په دې لړ کې د ده کورنۍ هم له ده سره چې کوچنی ماشوم و ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library

«کاځي کرام» ته راغله (۱).

همداراز کله چې بایزید روښان ولیدل چې ګوډاګي حاکمانو بیوه ورځ پښتنه مېرمن ونیوله او د دې ویښتان یې د ژرندې له پله سره وتړل، چې ژرنده به څرخېده نو دا به هم ورسره چورلېده (۲)، دې پېښې هم د بایزید پښتني احساسات راوپارول او د دې ظلم او تېري په مقابل کې یې له قیام ته بله لاره ونه لیده نو همدا وُ چې لاس یې په کار شو او د ژوند تر پایه پورې یې په مېړانه له دښمنو سره مبارزه او مقابله وکړه.

روښانیانو سربېره پر دې چې له دښمنو سره د ټکر جګړې وکړل، د دوی په لیکنو کې هم دا هدف تعقیب شوی چې په پښتو روښاني لیکنو کې ځای په ځای دا هدف کله په صراحت او وانه خوله او کله بیا د رمز او اشارې په ژبه لیدل کېږي، د دوی دا فکر له دې نه هم ښه څرګندېږي چې په تیراه کې یې د خپل ملي نهضت له پاره مرکز وټاکه، مالیه یې واخیسته او د روښانیانو خپل نامه سکه هم ووهله (۳).

---

(۱) حالنامه د بېلو-بېلو اخځونو له خولې.

(۲) معارف، ۱۹ ټوک، ۴۳۵ مخ، د پښتو ادبیاتو تاریخ له خولې.

(۳) مخزن، قلمي نسخه، ۱۱۴۲ هـ ق کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[۲]

# د روښاني ليکنوار ځښنت او خصوصيت

د روښاني ليکنوار ځښنت له دې نه اټکلولای شو چې د دې ليکنو په وسيله په پښتو ادبياتو کې نوې نوې تېږې کېښودی ـ شوې او د ادب هم د بڼې او فورم او هم د موضوع او محتوی له پلوه په نويو لارو روان شو .

د بڼې له پلوه دا دي چې د په لاس کې محلو ماتو له مخې :

- د خيرالبيان په وسيله لومړی ځل د پښتو د مسجع نثر بنسټ کېښودل شو .

- ارزاني روښاني لومړی ځل په پښتو کې يو بشپړ ديوان سپر ښود .

- دولت لواڼي روښاني او لومړی ځل په پښتو کې رکني ـ عروض تطبيق کړل ( ۱ ) .

---

(۱) د تفصل له پاره وګورئ : د دولت ديوان ، سريزه ، د استاد پوهاند عبدالشکور رشاد ليکنه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

- روښاني شاعرانو لومړی ځل په پښتو کې الفنا مې پيل کړی.
- دوی لومړی ځل په پښتو کې د يو خاص ډول صوفيانه بدلولو پاره يوه خاصه بڼه او سبک وټاکه(۱) او داسې نور...

همدا راز د موضوع او محتوی له پلوه د دوی په آثارو کې په اسلامي تصوف نوي زياتونې وشوې او دوی تصوف ته د:

- شريعت،
- طريقت،
- حقيقت،
- معرفت،
- قربت،
- وصلت،
- وحدت او
- سکونت.

اته پوړی وټاکلې چې ټول په يوه خوله په دې لاره روان شول او پخپلو ليکنو کې يې د تصوف دا پوړی ونغښتلې او وڅېړلې.

د دوی ادبي قدرت دومره زيات و چې مخالفينو يې هم له لياقت او قدرت نه سترګې نشوې پټولای او اخوند درويزه چې د دوی لوی مخالف دی او د ګورګاني سلطنت په لمسه يې په دوی د کفر ټاپې لګولې دی، هم د دوی په علميت او ادبي قدرت

---

(۱): د تفصيل له پاره وګورئ: ادبي ستوري، د ليکوالې تاليف، ۱-۱۷ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معرّف دی او پخپلو آثارو کې یې ځای په ځای د دوی د لیاقت یادونه کوي.

اخوند درویزه د بایزید روښان په باب کله چې په کابل کې بندي ؤ وایي:

«اما این ... صفت چون عالم بوده چندان مکر و تلبیس نمود که سایر اعمال شریعت را پیشه گرفته ... »(۱).

په مخزن کې وايي:

« بایزید ډیر په عقل پوره ؤ، د دنیا عقل یې ډیر ؤ، هوښیاري او څیرکي یې ډیره نه وه ... »(۲).

« داتاریک یوحکمتی ؤ، کل دفتر دشریعت یې پخپل لاس کړه»(۳).

همداراز دارزاني په باب وايي:

«... وارزانی چون شاعر تیز فهم و فصیح زبان بود در انواع ضلالت و بدعت شعر افغانی و فارسی و هندی و عربی بیان کرده ... »(۴).

د روښانیانو ادبي مرتبه (قدرت) له دې نه هم معلومولای شو چې درویزیان سره له دې چې د دوی کلک مخالفین وو، مجبور وو چې د دوی لاره ونیسي، درویزه مخزن د ده د آثارو په

---

(۱) : تذکرة الابرار والاشرار، ادارهٔ اشاعت سرحد، ۱۵۳مخ.

(۲) ، (۳) : مخزن قلمی نسخه، په ۱۱۴۲ هـ کال کې دعبدالغنی کاسي لیک، د لیکوال کتابتون.

(۴) تذکرة الابرار والاشرار، ۱۴۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیروی او رقابت په مسجع نثر ولیکه او حتی اعتراف یې وکړ:

«... و آن ... بزبان افغانی شعر میگفت و سب شرایع (؟)
و علم و علماء میکرد و شعرهای لایعنی به افغانان می نمود
پس این فقیر برخلاف او شعر افغانی آغاز کرد ...» (۱)

او هم یې دده د فارسي آثار ولکه صراط التوحید، حالنامې
او نورو په مقابل کې تذکرة الابرار و الاشرار، ارشاد الطالبین
او نور ولیکل او هم دده پیروانو د ارزانی، مخلص، میرزا،
دولت او نورو روښاني شاعرانو د الهامو په شان الهامې
وکښلې.

د روښاني لیکنو اهمیت د ژبې او ویي (لغاتو) له پلوه هم
ډېر زیات دی، ځکه د دوی په آثارو کې د پښتو ډېر داسې
سوچه او په زړه پورې ویي (لغات) راغلي چې اوس له ژبې
نه وتلي او هېره شوي دي، حتی که یوازې د روښاني آثارو
له ویيو نه قاموس ترتیب شي یو لوی قاموس کېږي.

---

(۱): مخزن (سرینه) قلمي نسخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# [۳]

# د روښاني ليکنو ناياوتې اوکمیابي

له تاريخي سندو څخه دا هم ښکاري چې روښانيان ډېره لويه ډله وه او د دې ډلې نيات عالمان او پوهان ليکوالان او مؤلفين وو خو د دوی ليکنې ډېرې لږې لاس ته راسېدلي او حتی په خپله د روښان د ليکنو په لړ کې چې په تاريخي سندونو کې ياد دې شوي، داسې ليکنې شته چې يوازې نوم يې پاتې دی او نوره يې پته نښته او هم دا ارزانې ډېرې ليکنې تر اوسه ورکې دي او يوازې په نامه يې پېژنو.

د دې علت هم دا دی چې د روښانيانو له دې کبله چې د روښانيانو د منطق په مقابل کې يې منطقي قوت نه درلود او هم په روښاني ليکنو کې د دروېزيانو له خوا پرې لګول شوي تورونه نه موندل کېدل نو يوازينۍ چاره يې دا ليدله چې د دوی آثار محوه کړي او له منځه يې يوسي، په خپله د دروېزه-

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې باب حکم کړی و:

«... اما غرض از توضیح قصهٔ او (روښان) آنکه رساله‌ها وتصنیفهائیکه ازین ملحد مانده باشد اگر بدست اهل سنت ـ وجماعت در افتد باید که به آتش بسوزند (بسوزانند) وبدان معتقد نشوند ...» (۱)

داځکه چې اوس پاتې دي هم، له دې کبله چې روښانیان دد ښمن دې حربې ته متوجه وو اوخصوصًا د روښان د لیکنو یې زیاته ساتنه کوله، لکه «حالنامه» چې د «خیرالبیان» د ساتنې په باب لیکي:

«د میاروښان نوی شیخ عمر په یوه جنګ کې یواز ې ـ دد ې له پاره تیارو چې د خیرالبیان نسخه یوځای ځنې پاتې شوې وه، تهول لښکري معطل کړ او تر هغې له هغه ځایه ونه خوځېد، څو چې کتاب نه وُ ورته راسپارلی» (۲). او هم دیوې جګړې په برخه کې د «مقصودالمؤمنین» د ساتنې حال داسې لیکي:

«په دې وخت کې دښمن بیا حمله وکړه، جلال الدین د بایزید کشر زوی چې و رسره مقصودالمؤمنین وُ ځان اباسین مته ـ وغورځاوه ...» (۳).

داوُ د روښاني لیکنو د نابیاوتې علت او دا وُ د روښاني آثارو دپاتې کېدو اعجاز!

---

(۱): مخزن، قلمی نسخه. (۲) حالنامه، ۲۹۸ پاڼه (پښتو مجله، پښتو اکېډیمی، دوهم کال، ځلورمه ګڼه، له اردو انسایکلوپیډیا آف اسلام څخه د ډاکټر محمد شفیع لاهوري د مقالې پښتو ژباړه).
(۳): حالنامه، (روښانیان یا د مغلو تاریکیان، عبدالاکبرخان اکبر).

(c) ketabton.com: The Digital Library

[٤]

# د روښانې لیکنو پېژندګلوي

په دې لیکنه د روښاني لیکنو پېژندګلوي تر ځلورو سرلیکونو لاندې وړاندې کیږي :

(۱) : د بایزید روښان خپلې لیکنې او آثار .

(۲) : روښان پلوه لیکنې .

(۳) : د روښان د پیروانو لیکنې .

(۴) : روښاني پلوه لیکنې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(١)

# د بایزید روښان خپلې لیکنې او آثار

بایزید روښان تر هغه چې د سیاست د ډګر کړندی و
په ادب او عرفان کې یې هم روښانه ونده تېره کړې وه
او په خپل نافرګاره ژوندکې یې ډېرې لیکنې کړې چې
ځینې یې پاتې او ځینې یې د زمانې سیلیو ورسره وړې دي،
ښې ښاغلي ښيي چې د ده لیکنې دې له دې نه هم زیاتې وې
چې اوس یې یا متن په لاس کې دی او یا یې نوم زموږ غوږونو
ته را رسېدلی دی. په نورو قرینو سربېره اخوند درویزه
څو ځله د ده د ډېرو رسالو اطلاع ورکړې ده:
«این ملحد در باب طلب پیر رساله‌ها نوشت...»[1].

---

(1) مخزن، قلمي نسخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"... و رسایل بسیار در باب الحاد تالیف نموده ...."(۱)

همدا رانگه د حُیني نوروما خذونو له سنکو نه هم ښکاري چې د ده ډېرې لیکنې کړي او د خپل مسلک د تبلیغ له پاره یې هڅې خواته استولې دي ، د ده په څلورو ژبو لیکنې کولای شوې او په پښتو یې شعر وایه ، تر او سه یې چې کومې لیکنې معلومې دي ، هغه دا دي :

## ۱- پښتو رسم الخط :

دولت لواڼي د خپل د یوان په یو بیت کې وایي دی :

افغاني لفظ مشکل ؤ لوست کو ښه نه شه
ورته وشو کننده د یارلس حرفونه

دا بیت ښکاروي چې پیر روښان د پښتو غږونو له پاره ځانګړي توري ایښي او ټاکلي دي ، سره له دې چې په ځانګړې ډول د روښان د لیک د وه کومه رساله لاس ته نه ده راغلې خو د خیرالبیان (تفصیل یې وروسته راځي) د ورکې نسخې په ترلاسه کېدلو سره څرګندېږي شوه چې د دې نسخې د سرلیکونو څخه لیکونه د لیک د وه په باب دي ، چې ښایي همدا به دا رساله وي ، خو په دې رساله کې د ټولو غږونو راغلی توري.

---

(۱): مخزن، قلمي نسخه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دیارلسو نه زیات او د پښتو ځانګړي توري له دیارلسو نه کم دي.

د خیرالبیان د نسخې په مخنیو څوارلسو پاڼو کې په مجموعي توګه عام توري چې: (ا، ب، پ، ت، ټ، ج، چ، ځ، خ، د، ډ (ټ دال لاندې ټکی چې د اوسني «ډ» غږ یې ښوده)، ذ، ډ (د دال په منځ کې ټکی چې د اوسني «ډ» غږ یې ښوده)، ر، ړ، ز، ږ (چې د اوسني ږ (ژ) غږ یې ورکاوه) پس (سین ته یې د لاندې درې ټکي ورکړي) ش، ښ، ص، ض، ط، ظ، ع، غ، ف، ق، ک، ګ (د کاف سر ته یې کږه ورکړې او بل توری یې هم «ګ» لیکلی چې د توپیر دلیل یې نشته) ل، م، ن، ڼ، و، هـ، لا، ی» دي، اغلي او د پښتو د خاصو غږونو توري یې د «چیګړ» په کمون د وولسو توري دي او که هغه مکرر ناپېژندل شوی «ګ» چې توپیر یې نه ښکاري پکې وشمېرو، نو بیا د دولت له خوا یاد شوي دیارلس حرفونه پوره کېدای شي. (۱)

---

(۱): وګورئ: د خیرالبیان د عکسي چاپ لومړني مخونه، ۱۳۵۳ هـ ش. داسې ښکاري چې د خیرالبیان دوهم «ګ»، د اورمړي ژبې د یو ځانګړي غږ (صوت) له پاره وضع شوی چې په دې حساب د دولت د دیارلس حرفونه یا دول په ځای دي. (د تفصیل له پاره وګورئ: د نځیره د خوشال بابا، د لیکوالۍ تحقیق، پښتو اکیډیمي، پېښور، ۱۹۸۵ ع.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپښتو د ځانګړو غزونو دا ډول توري په ټولو روښاني لیکنو کې راغلي او کومې قلمي روښانۍ نسخې چې لاس ته راغلي لکه خیرالبیان، دارزانی، دولت، میرزاخان او نورو دېوانونه او روښاني نسخه چې د اروابناد دوست محمد بېبخ له کتابتون نه تر لاسه شوې، ټول په همدې لیکدود دي.

## ۲- صراط التوحید:

صراط التوحید د باین ید روښان بل اثر دی چې په ۹۷۸هـ ق کال کې په عربي او فارسي لیکلی او د خلیفه دولت په لاس یې اکبر بادشاه ته لېږلی و، څو دی د خپلو مریدانو په حلقه کې شامل کړي، اکبر د دې کتاب په لیدو او لېږلو خوښ شوی و (۱).

د دې کتاب یوه نسخه د پېښور د عجایب کور مهتمم ښاغلي عبدالشکور د پېښور د بالاماڼۍ د فضل صمدانی له کتابتون څخه تر لاسه کړې او په ۱۹۵۲ع کال کې په ۱۱۶ مخونو کې خپره کړې ده.

---

(۱) حالنامه: خیرالبیان، د مولانا قاسمی سریزه، ۸۴ مخ. د پښتو ادبیاتو تاریخ (دوهم ټوک) د استاد حبیبي، ۲۶۴ مخ. ورکه خزانه (دوهم ټوک) د همیش خلیل، ۱۹ مخ. روښانیان د مغولو تاریکیان، د عبدالاکبرخان اکبر، ۹۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه چې د کتاب لومړی اته مخونه نشته، نو څرګنده نه ده چې په دې کتاب کې اکبر پادشاه ته خطاب شوی او که نه؟ او که شوی په څه ډول؟ دا پوښتنه هغه وخت حل کېدای شي چې د دې کتاب کومه بله نسخه تر لاسه شي.

دکتاب په لومړیو پنځه دېرش مخونو کې یې خپلې څو ندپښتې په فارسي لیکلې او په پاتې کتاب کې یې یوه موضوع هم په عربي او هم په فارسي راوړې ده، دځان پېژندګلوي نه وروسته پاچایانو ته دریې لارښوونې لیکي، وروسته بې په لومړي باب کې د شریعت، په دوهم باب کې د طریقت، په دریم باب کې د حقیقت، په څلورم باب کې د معرفت او په پنځم باب کې د سکونت خبرې کوي.

استاد حبیبي د صراط التوحید عربي او فارسي دواړه کمزورې ګڼي او وایي چې دی کوښښ کوي چې خپل مقاصد په آیاتو، احادیثو او عربي مقولو ثابت کړي، مګر هغه احادیث چې دی په دې رساله کې رانقلوي اکثر یې د علم او فن له مخې صحیح او ثقه احادیث نه دي او ډېر لږ منقولات یې سم خبرې دي (۱).

(۱): د پښتو ادبیاتو تاریخ، دوهم ټوک، ۲۶۴ - ۲۶۵ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳- مقصود المؤمنین:

مقصود المؤمنین د بایزید روښان یو اثر دی چې په عربي ژبه لیکلی او کومه نسخه چې یې دارو استاد ډاکتر محمد شفیع خوښکي لاهوري سره وه په هغې کې ترکیبو لاندې فارسي ژباړه هم شته، بله نسخه یې د حیدرآباد دکن په آصفیه کتابتون کې خوندي ده، او بله نیمګړې نسخه یې په غزني کې - تر لاسه شوه چې ځای پر ځای ترکیبو لاندې یې فارسي ترجمې بر سېره پښتو ترجمه هم لري. د دې اثر انتقادي متن ډاکتر میر ولي مسعود له مفصلې عربي مقدمې او تشریحاتو سره له اسلام آباد څخه خپور کړی دی. دا اثر بایزید روښان د روښاني ردې او مسلک په برخه کې د خپل مشر زوی شیخ عمر، په غوښتنه لیکلی چې ځای په ځای یې د «ولدي العزیز» په نوم خطاب ورته کړی دی. دا نسخه په ۱۲۲۴ هـ ق کال د دوهمې خور په څوارلسمه نېټه خطاطي شوې او د آصفیه د کتابتون نسخه له دې نسخې نه دوه کاله وروسته کښل شوې ده (۱)

دا کتاب تر ټول یووېشت(۲) بابونه لري چې سرلیکونه یې:

(۱) وعظ او نصیحت (۲) عقل، (۳) ایمان (۴) خوف (۵) رجا —

---

(۱) پښتو (د پښتو اکیډیمۍ مجله) دوهم کال، ځلورمه ګڼه، د مرحوم ډاکتر شفیع لاهوري مقاله د قاسمي ژباړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۶) نفس ، (۷) شیطان ، (۸) قلب ، (۹) روح ، (۱۰) دنیا، (۱۱) آخرت (۱۲) توکل، (۱۳) اوقناعت توبه، (۱۴) اوله نه تش (۲۱) باب پوري اته مقامات دی (۱)

ددې کتاب د لاهور خطي نسخه (۹۵) پاڼي لري ، لیکلي نستعلیق دی ، عربي متن یې په توره سیاهي او فارسي ژباړه یې په سره رنګ لیکل شوې ده . (۲)

## ٤ - فخر الطالبین :

فخر الطالبین د بایزید روښان یو بل اثر دی چې دوخت پاچهیانو او حاکمانو ته یې دخپل تبلیغ او تلقین د نورو لیکنو او رسالو په لړکې دخپل خلیفه، یوسف په لاس دهغې وخت د بدخشان حاکم میرزا سلیمان ته استولې دی.

ددې اثر یادونه په ، حالنامه « کې شوې خونسخې یې په لاس کې نشته او نه څرګنده ده ، چې دا کتاب په کومه ژبه وو (۳) .

---

(۱) خیرالبیان، سریزه ، ۴۹ مخ . د پښتو ادبیاتو تاریخ ، ۳۰۱ مخ .

(۲) د پښتو ادبیاتو تاریخ ، دوهم ټوک ، ۳۰۰ مخ .

(۳) ، پښتو مجله، د ډاکتر شفیع مقاله ، د خیرالبیان سریزه ، ۴۹ مخ ، د پښتو ادبیاتو تاریخ ، ۳۰۱ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵ - خیر البیان :

د بایزید روښان د ډېر مهم او ډېر مشهور کتاب خیرالبیان دی او همدا کتاب و چې داخوند درویزه په سترګو کې اغزی و، او پرې لیکلي يې وو :

«... چون مردم را بخود معتقد میساخت آنزمان ایشان را خلوت میفرموده و ذکر میداده ....» (۱)

او بیا بل ځای لیکي :

« واین ملحد کتابی را تصنیف کرده و خیر البیان نامیده...» (۲)

او چې په دې يې هم خوله سړې نه شوه بیا لیکي :

« وایضاً این ... کتابی را تصنیف کرده ، بعضی کلمات او را بزبان عربی بلا ادراك ترکیب و ترتیب جمع آورده و بعضی را بزبان فارسی و بعضی را بزبان افغانی و بعضی را بزبان هندی اما هرکدام ازین کلمات ناموزون و ناموافق افتاده ..... » (۳) .

په دې يې هم د زړه تاو نه کمېږي او پسې لیکي :

..... و آنرا خیر البیان نام برده وچون مملو از ... و مشحون از افترا و فساد بوده ، فقیر آنرا شر البیان نامید.

---

(۱) ، (۲) : مخزن ، قلمي نسخه

(۳) : تذکره الابرار والاشرار ، ۱۴۸ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

واگر ...البیان نا مند هم مناسب است (۱).

د خیرالبیان نسخې ورکې وې، یوه نسخه یې چې د یو ځل پیدا کېدو نه وروسته بېرته بې پته وه د لوېدیځ المان د ټیو بنګن په یوه کتابتون کې وموندل شوه او اوس هلته ساتله کېږي، خیرالبیان د دې نسخې د عکس له مخې په ۱۹۶۷ ع د پېښور پښتو اکیډمۍ استاذ اوخپور کړ او عکسي نسخه یې د بایزید روښان د مړینې د څلور سومې کلیزې د نړیوال سمینار په وياړ زموږ لاسونو ته راورسېدله، او دريم ځل یې چاپ یې د کاتب الحروف په سریزه په ۱۹۸۵ ع کال کې ښاغلي قاسم بنوی د پښتو ادبي مرکز سرای نورنګ له اړخه ترسره کړی دی.

د دې کتاب زیات اهمیت په دې کې دی چې دا د پښتو لومړنی بشپړ نوې کتاب دی چې موږ ته راپاتې دی او د نثر او ادب له پلوه خورا ارزښت لري.

دا اثر په مسجع نثر لیکل شوی، چې دا نثر د عربي او بیا د فارسي له لارې پښتو ته هم راغلی، او په پښتو کې یې لومړنی مؤسس بایزید روښان دی او په دې ډول نثر لیکل شوی لومړنی کتاب همدا خیرالبیان دی، د دې ډول نثر اغېز دومره زیات وه چې حتی د روښانیانو مخالفینو هم ځان مجبوره کاوه چې په دې ډول نثر لیکنې وکړي او خصوصاً د اخوند درویزه ـ

---

(۱) خیر البیان، د پېښور پښتو اکیډمۍ، ۱۳۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخزن دخیر البیان تر سماسم اغیز لاندې لیکل شوی دی.

په خیله بایزید د دغه سبک د خوښولو سبب یو الهام ګڼي او داسې پرې وړاندې ولیکل شول:

«او بایزیده! وکښه خیرالبیان - په هسې الحان، چې یې بیان لوست سورة الرحمان»(۱). او په همدې توګه یې د کتاب ترپایه پورې د سورة الرحمان «آن، آم» سجعه ساتلې ده او د «هادی ویلي دي رحمت د خدای په ده» د اکلام «عبارت یې د «فبای الاء ربکما تکذبن» په اندول په خپل کتاب کې ځای په ځای راوړی دی.

دخیرالبیان ټول مطالب دیني او مذهبي دي او په ایتونو او حدیثونو متکي، او په دې اثر کې تصوف هم له روښاني نظره چې اته مقامات لري، څېړل شوی دی.

دکتاب ټول مطالب تر یوسل او دیارلسو (۱۱۳) لویو او وړو سرلیکونو لاندې راغلي دي، دکتاب د قلمي نسخې ټول پاڼې (۱۶۷) دي چې (۳۳۴) مخه کیږي، لیکڼه یې خاص ډول نستعلیق دی، په هر مخ کې یې یوولس کرښې راغلي او د هر مخ د لیکنې سور (۷½) او اوږد ده (۱۳½) سانتي متره دي(۲).

---

(۱) خیرالبیان،

(۲) د دې کتاب د بشپړې پېژندګلوۍ له پاره وګورئ: د استاد حبیبي د پښتو ادبیاتو تاریخ، د خیرالبیان د پښتو چاپ سریزه، او د کابل عکسي چاپ متن او سریزې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «دبستان مذاهب» مؤلف او اخوند درویزه دخیرالبیان[1] په باب لیکلي چې داکتاب بایزید په څلورو ژبو: پښتو، فارسي، عربي او هندي لیکلی خو په یاد ه شوې نسخه کې یې ـ یوازې څو مخونه څلورو ژبو وو او نور کتاب هغه شکل نه درلود لکه یاد شوی چې دی، خوله نیکه مرغه په ۱۳۶۲ ش ۱۹۸۳ ع کال د پښتو خوان محقق سباغلی زلمی هیوادمل هندوستان ته ولاړ او هلته یې د هند د سالارجنګ په موزیم کې د ـ خیرالبیان یوه بشپړه نسخه وموندله چې سرتر پایه په څلورو عربي ، فارسي، پښتو او هندي ژبو لیکل شوی او دجملې پلوه هم دلومړۍ نسخې د ریې چنده ده .

دا نسخه (۸۶٤) پاڼې لري چې هرمخ یې (۱۷) کرښې لري او میرزا احمد روښاني په ۱۰۷۹ هق کال خطاطي کړې ده. د دې نسخې په خپر یدلو سره به چې، د ښاغلي زلمي هیوادمل تر کار لاندې ده ، دخیرالبیان په باب نوې خبرې او انکشافات وشي (۲).

## ۶ـ حالنامه :

حالنامه هم د بایزید روښان مشهور کتاب دی، چې بیا وروسته د ده د یوه مرید علي محمد مخلص په وسیله بشپړه شوې ده.

---

(۱) د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې ، زلمي هیوادمل ۹۰۰ ـ ۱۰ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې کتاب په اوله برخه کې د بایزید د ژوند تفصیلي حالات راغلي او په نورو برخو کې یې دده د اولادې او مریدانو حالات لیکل شوي دي.

د دې کتاب یوه نسخه د علیګړه په ختیځ کتابتون کې په (۳۷۰/۹۲۰) نومره خوندي ده، او (۵۲۶) مخونه لري، له دې نسخې نه د پنجاب یونیورسټي د کتابتون له پاره هم یوه نسخه نقل شوې ده (۱). او د پښتو اکیډمۍ پېښور په کتابتون کې یې هم یو نقل شته (۲).

په دې اثر کې لوېه نیمګړتیا دا ده چې د پیښو کلونه د پرکمې پکې نه دي ښودل شوي بلکه د نشت په شمېر دي، پېښې هم پرله پسې نه دي، د حالاتو په منځ کې منظوم کلام شروع شي، یوه خبره پرېږدي بلې ته ورځي (۳). همدارنګه په دې اثر کې دا هم یوه لویه کمی ده چې د مغلو جنګونو تفصیلات نه لري چې دده د خپل ژوند په وروستیو دوو نیمو کلونو کې له مغلیانو سره کړي وو (۴).

---

(۱) د پښتو ادبیاتو تاریخ، ۲۹۸ مخ، پښتو مجله، ۲ کال، ٤ ګڼه، د محمد شفیع د مقالې پښتو ژباړه، روښانیان د مغلو تاریکیانو، تاریخي ورکه خزانه، د هم توک، ۲۰ مخ، د خیرالبیان سریزه، ۴۶-۴۷ مخونه.

(۲) د پښتو اکیډمۍ د مخطوطاتو فهرست (قلمي) د کاتب الحروف ترتیب او تالیف.

(۳) روښانیان، ۹۵ مخ. پښتو مجله، ۲ کال، ٤ ګڼه، د دکتور محمد شفیع مقاله.

(٤) پښتو مجله، ۲ کال، ٤ ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷- د روښانیو نوموړکی تالیف:

دکابل د خطي نسخو په کتابتون کې استاد حبیبي یو مجموعه موندلې چې په دې مجموعه کې یوه رساله یقیناً د بایزید روښان تالیف ده او د ده یوه مرید چې همدان نومېږي په (۱۰۴۳هق) کال کښلې ده.

دا رساله د رسالهٔ غوثیه له نیمګړې نسخې نه وروسته په نیمګړي ډول شروع شوې او یو ځای په واضح ټکو پکې لیکل شوي دي:

«قال بایزید مسکین: مع الساکن ذکر الله فضیلة و ذکر الله فریضة لا یذکر للانسان شیی بغیر معرفت الاسمه وچون ترا از خدای پرسند، چه جواب میدهی وچه جواب میگوئی؟ آن روز دروغ گفتن بکار نیاید و به دروغ نگذری و نجاة نیابی که خدای تعالیٰ به دروغ گویان لعنت گفته است کما قال فنجعل لعنة الله علی الکاذبین ...».

دا ښی هم لکه د روښان د ځینو نورو آثارو غوندې په عربي او فارسي دی او د لیکوالی بڼه یې هم د ده نورو آثارو ته ورته ده او چې په صراحت سره د بایزید مسکین نوم اخلی دا هم د خیر البیان، صراط التوحید او مقصود المؤمنین سره سم دی او بل دلیل دا دی چې دا رساله دا سې ختمېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«قال بایزید مسکین ابن عبدالله: راحت روح کان وصف الله وعذابه صفة البشریة، فکل راحة یهلک عن الانسان بخیر وصف الرحمن.

این رساله مختصر کردم تمام عاملانش امن یابد جاویدان تمت تمام شد، کار من نظام شد، امید وار است بالطف باری، همدان ابن شیخ نعمت (۱) مرید میا روښان انصاری تحریر فی تاریخ ۱۰۴۳ ق (۲)۰(۳)

د دې صراحت او نورو دلیلونو له مخې استاد دا اثر د بایزید روښان یو بل ورک اثر گڼي چې د دوی په لاس را پیدا شوی او د بایزید روښان د آثارو علاقمندانو ته یې ور سره اشنا کړي، خو نوم یې تر اوسه نه دی ښکاره چې دا د ده کومه رساله ده؟

## ۸- مکتوبات:

ډاکتر جهانگیر په اورینټل کالج مګزین کې په خپله مقاله کې د روښان له لیکنو څخه د ده «مکتوبات» هم یاد کړي دي خو ځرگنده نه ده چې دا د ده د نثر او لیکنو مجموعه ده.

(۱) اصل: نیعمت. (۲) اصل: (۱۴۳) خود همدان په هغه مهر کې چې په همدې مجموعه لګول شوی د اسنه ۱۰۴۳ ده او دا مجموعه د همدې سړي په لاس تر خیرالبیان اتلس کاله پخوا لیکل شوې ده.

(۳) حبیبي، استاد عبدالحی، د خیرالبیان د عکسي نسخې سریزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او که مطلب یې بې حالنامه وي (۱) .

د تاریخونو له دې لیکو څخه چې .بایزید روښان د شاوخوا حکمرانانو د دربارونو او د علماؤ مدرسو ته د خپل مسلک په باب د استاځیو په لاس لیکونه استولي دا خبره تائیدیږي چې د ده مکتوبونه دې هم را ټول شوي وي او خصوصًا داچې ده د کابل حاکم ته د روښانیانو د وړلو له کبله یو لیکلی پروتستي استولی دی (۲) د اخبره لا سنه ټینګوي .

## ۹- واجید دی شلوک :

د خیر البیان مصحح او محشی ښاغلی قاسمی لیکي چې :

« واجید دی شلوک » د پنجابی یو منظوم کتاب دی چې «اونکار نانهه»، ترتیب کړی ، دځینې خلکو دا خیال دی چې د دې لیکو نکی هم دغه بایزید دی (۳) .

ډاکتر محمد شفیع بیا وایي چې په تذکرة الابرار کې لیکل شوي دی چې د بایزید د جوګیانو سره هم څه تړون ؤ ، خو په حالنامه

(۱) قاسمی ، عبد القدوس ، د خیر البیان سریزه ، ۴۰ مخ .

(۲) په پښتو مجله کې د ډاکتر محمد شفیع مقاله ،

(۳) د خیر البیان سریزه ، ۵۰ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې په دې باب کوم واضح شهادت نشته ، خو که بایزید هم هغه واجید وي چې شلوك يې نظم کړی (لکه د جالندر د- انصاریانو خیال دی) نو دا معلومېږي چې بایزید دعوامی هندو ایانو کافي علم لرلو او د حالنامې د مرتب حئيني اشعار به یقینًا د هغه اثر په بناء لیکلی شوي وي چې د شلوك اغېزه پرې شوې وه (۱).

د بایزید روښان د لیکنو په لړ کې دا اثر د «وجید ادی شلوك» په نامه «د پښتو ژبې د زده کړې لارې» نومې کتاب هم یاد کړی دی (۲).

استاد حبیبي له دې کبله چې ددې اثر او د مکتوباتو پته نشته دا دواړه لیکنې د بایزید روښان په آثارو کې نه شمېري (۳).

## ۱۰- د روښان شعرونه :

تر اوسه د بایزید بشپړ شعرونه په لاس کې نه وو. خو د ځینو لیکنو له مخې دا اټکل کېده چې د ده دې بشپړ شعرونه هم ویلي وي .

لومړی به په کابل کې د روښان د بندي کیدلو په باب د-

(۱) پښتو مجله ، د ډاکتر شفیع مقاله .
(۲) قاضي فضل غفران او گل افضل خان ، «د پښتو ژبې د زده کړې لارې» پښتو اکیډیمي ، د پېښور یونیورسټي ، ۱۹۷۱ع ، ۱۲۲ مخ .
(۳) استاد حبیبي ، د عکسي خیرالبیان سریزه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو ادبیاتو د تاریخ دا روایت چې د معارف له خوا یې لیکلی
ولولو :

« میرزا محمد حکیم پیر روښان په سیاه چاه کې قیدي کړی ؤ ، مګر پس له څو وخته چې یې وکتل دی هلته ژوندی او د ده اشعار یې په دغه تورزندان کې ویلي وو . . . »(۱)

اخوند درویزه سربېره پر دې چې د مخزن په پای کې د بایزید روښان د څلور بې خیرالبیان یاد ونه کوي د مخزن په سریزه کې د ده د پښتو اشعارو په باب لیکي :

« و آن . . . بزبان افغانی شعر میگفت . . . و شعرهای لایحصی به افغانان میخواند . . . »(۲)

دا روایتونه ښیي چې بایزید روښان ښه شعرونه هم ویلی دي ، خو ځینې کسان د ده خیرالبیان شعر ګڼي، نو ځکه له دې خبرو نه مراد خیرالبیان بولي ، لیکن د حالنامې دا صراحت چې : « (بایزید) اول سړی ؤ چې پښتو قصیدې، غزلې، رباعیات ، قطعې ، او مثنوي یې جوړې کړې ، چې د ده نه اول ځینې کسانو یو-یو یا دوه-دوه نظمونه ویلي وو او بس » (۳) په دې باب چې بایزید روښان ښه شعرونه—

(۱): د پښتو ادبیاتو تاریخ ، دوهم ټوک ، ۲۷۲ مخ .

(۲): مخزن ، قلمي نسخه .

(۳) حالنامه ؛ روښانیان د مغلو تاریکیان ، ۱۳۵ مخ . پښتو مجله ، ډاکتر شفیع مقاله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلي او د شعرونو دیوان یې درلود، د هیڅ ډول شک ځای نه پرېږدي.

همدارنګ د روښانیان په کتاب کې د بایزید یو فارسي شعر هم قید شوی دی چې ښکاري دا شعر هم له حالنامې نه اخیستل شوی وي (۱) که څه هم شعر یې کمزوری دی خو ښکاره کوي چې بایزید روښان دري شعرونه هم ویلي وو. څو اوس د «فرحت المجتبی» له تر لاسه کېدلو نه ښکاره شوه چې بایزید شعرونه ویلي او لکه حالنامه چې وایي قصیدې یې انشاء کړې دي (۲).

## ۱۱- سرودونه:

د حالنامې د ښکنې له مخې بایزید روښان د پښتو موسیقۍ په برخه کې هم لوی خدمت کړی دی او هغه دا چې په پښتو موسیقۍ کې یې د سلوک او نور سرودونه جوړ کړل او حالنامې دده له خوا شپږ جوړ کړي سرودونه یاد کړي: ناسري - (د هناسري) پنځه پردې، څلور پردې، د جنګ آهنګ، د شهادت مقام. په بایزید باندې سرود له ورکوالی اغېزه کوله او چې سرود به ویل کېده نو دی به په وجد کې راغی (۳).

(۱) روښانیان د مغلو تاریکیان، ۶۸ مخ.

(۲) فرحت المجتبی وروسته در پېژندل کېږي.

(۳) روښانیان د مغلو تاریکیان، ۱۳۵ مخ. پښتو مجله، د ډاکټر شفیع مقاله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «روښانیان» مؤلف د دوهم امیرخسرو لقب ورکړی دی (۱) په همدې توګه موږ هم د ده سره دونه دیوه ارزښتناک اثر په توګه یادولای او قیدولای شو.

## ۱۲ - فرحت المجتبیٰ:

دا د بایزید روښان یو منظوم اثر دی چې د ښاغلي زلمي هیوادمل په زیار راوهاند د علم نړۍ ته وروپېژندل شو. ارواښاد دوست محمد بړېڅ په کندهار کې د روښانیانو د مکتب یوه نیمګړې نسخه درلوده چې په ۱۳۵۳ ش (۱۹۷۴ ع) کال پښتو ټولنې ته یې راولېږله او د روښاني رسالې په نامه یې خپره کړه، بیا په ننګرهار کې ښاغلي زلمي هیوادمل د دې کتاب تر دې نسخې بشپړه نسخه پیدا کړه چې هلته لیکل شوي وو: «دا تصنیف د میاروښان دی». خو کله چې دی هند ته لاړ، هلته یې د ډیلي په ملي موزیم کې د همدې کتاب یوه بشپړه نسخه وموندله چې نوم یې «فرحت المجتبیٰ» دی او په دې اساس ثابته شوه چې دا اثر هم د میاروښان تالیف کړی دی. اثر سرتر پایه د قصیدې په بڼه، دلنډیو په سجع: «... ینه» ویل شوی او روښاني تصوف یې روښانه کړی دی (۲).

---

(۱) روښانیان، ۱۳۶ مخ.

(۲) خیرالبیان، د حبیب الله رفیع سریزه، د قاسم بنوی چاپ، ۳۰ مخ.

## (۹) خوږيان[۹]:

استاد حبيبي ليکي چې راورټي د خپل پښتو ګرامر په سريزه کې خيرالبيان د «خوږيان» په نامه ياد کړی دی(۱) خو سر الف کيرو د دې پټهانز په اردو ژباړه کې په واضح ټکو ليکل شوي چې د بايزيد ډېر مشهور آثار خيرالبيان او خوږيان دي(۲) اما په دې برخه کې يې کوم سند نه دی وړاندې کړی.

کله چې په دې باب له استاد حبيبي سره وغږېدم هغوی وويل چې په دې نامه که د بايزيد کوم اثر وي، نو ښايي چې دا «خوږيان» د «خوږې پاڼې» اوښتي شکل وي،

زما اټکل دا دی که پير روښان «خوږې پاڼې» لري نو دا به هماغه «مکتوبات» وي چې وړاندې ياد شو، نو ځکه ما «خوږيان» ته د بايزيد د آثارو شمېره ورنه کړه او د سوالي په نښه مې قيد کړ.

---

(۱): حبيبي، پوهاند عبدالحی، د پښتو ادبياتو تاريخ، ۲:۱ مخ

(۲): سر اولف کيرو، پټهان، د سيد محبوب علي اردو ترجمه، پښتو اکيډمي، ۱۹۶۷ ع کال، ۲۸۱ - ۲۸۲ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۴)

# روښان د وله لیکنې

تر دې ځایه مو د بایزید روښان هغه لیکنې او آثار یاد کړل چې پخپله زموږ په لاس کې وو او یا د تاریخي سندونو له مخې د ده کړل شوي دي، او س به نو هغه لیکنې یاد دې کړو چې په تر لاسه شویو نسخو کې د لیکوال نوم نشته خو د اټکل له مخې یې د ده بللای شو:

## ۱۳/۱ - رساله غوثیه:

د استاد حبیبي له خوا د بایزید روښان د یوه نوموړکي اثر د راپیدا کېدلو په برخه کې مو ویلي وو چې له دې اثر سره ځینې نورې رسالې هم په یوه پښتۍ کې ګنډلې شوې دي چې په هغو کې یوه هم رساله غوثیه ده، د دې رساله د پای پاڼې نه لري نو ځکه یې مولف نه دی ښودل شوی، خو استاد حبیبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اټکل کوي چې د دې رسالې د لیکوالی د ډول او مطالبو اداء د پیر روښان آثارو ته ورته ده، که موږ د دغې رسالې شباهت د روښان له نورو آثارو سره په مضامینو او ناوړې عربي انشاء او ماتو کوږو دري منظوماتو کې وګورو نو ضرور د افکر پیدا کېږي چې دغه رساله غوښیه به هم د بایزید تالیف وي (۱).

---

(۱) استاد حبیبي، د عکسي خیر البیان سریزه، ۳۳ - ۳۴ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

# د روښانو پیروانو لیکنې

بایزید روښان د ډېر پیاوړي او ایماندار ملګري درلود چې ټول د سیاست په ډګر کې سربېره د ادب او عرفان په ډګر کې هم ځکه ندي وو او اکثرو یې لکه د دغو ندې پېر دوو، درېو... او ان خلورو ژبو لیکنې کولای شوې، چې دلته یې د لیکوالو ملګرو په لیکنو غږېږو:

## (۱): «ارزانـي»

د بایزید له ټکېره ملګرو نه یو هم ارزاني دی چې لکه دغو ندې یې په څلورو ژبو کښنې کولای شوې او شعرونه یې ویل، سربېره پر هغو آثارو چې ده لیکلي، ځینې کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي چې د خیرالبیان په لیکلو کې هم لاس لري (۱) او میا-
روښان د پښتو لیک دود رساله دده په سپارښتنه لیکلې ده (۲)
خو په خیرالبیان کې داسې برخې نه لیدلې کیږي چې هغه دې
له بایزید نه پرته بل چا لیکلې وي او خصوصاً دا چې خیرالبیان
بایزید روښان په یو ازې ځان لیکلی له هغه وصیت نه هم
ښکاري چې حالنامې قید کړی او ده خپلو ملګروته د مړینې
په وخت ویلي و وچې ما هرڅه په خیرالبیان کې لیکلي او زما
لارښوونې د خیرالبیان په وسیله بشپړې شوې دي (۳) او
هم د رسم الخط د رسالې په باب داخبره سمه نه ده ځکه
بایزید پخپله ددې توروتاکل خدایي الهام بولي (۴).

دارزانی لیاقت او علمي قوت دومره زیات و چې
حتی مخالفینو هم ستر ګې نه شوې پرې پټولای چې ا ن-
اخوند درویزه هم دده فصاحت او تېز فهمي منلې ده (۵).

ارزانی په قام سربن، زمند، خوښکی او د قصور
او سپد ونکی و، د پلار نوم یې برهان و (۶) او دوه نور-

---

(۱): تذکرة الابرار، ۱۴۹ مخ. د روښانیان ۹۳ مخ او نور.

(۲): ورکه خزانه، د وهم ټوك، ۲۰ مخ او داسې نور.

(۳): پښتو (مجله) ۲ کال، ۴ ګڼه د ډاکتر محمد شفیع مقاله.

(۴): وګورئ د خیرالبیان د سرخو رلس مخونه. (۵): تذکرة الابرار ولاشرار، ۱۴۹ مخ.

(۶): دا مطلب دده پخپل دیوان کې راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادیبان ملا علي او ملا عمر چې دوی هم د پیر روښان پیروان وو دده وروڼه وو (۱). عبدالحلیم اثر بې له دې چې سند وښیي دده نوم محمد عزیز ارزاني لیکلی (۲)؛ د ارزاني ژوند دده د خپلې وینا له مخې تر یوولسم (۱۰۱۰) لیږدي (هق) کال پورې یقیني دی:

داغزل په تاریخ ښکلی — په حساب د دوست "دغوږی"

"غین" "زر" "دال" "یې څلوري" — په شپږ یا د حساب ده ووه دی (۲)

ده هم لکه د پیر روښان غوندې ډېر آثار لیکلي چې تر اوسه یې دا لیکنې تر لاسه شوي او یا په آثارو کې یادونه شوې دي:

## ۱/۱۴ - د ارزاني پښتو دیوان:

ارزاني په پښتو کې یو لوی دیوان کښلی دی چې تر ټولو بشپړه نسخه یې استاد حبيبي لیدلې ده (۳)، د استاد حبيبي د یادښت

(۱) د پښتو ادبیاتو تاریخ، ۲۸۲ مخ.

(۲) روحاني رابطه او روحاني تړون، ۵۳۵ – ۵۳۷ مخونه. ښایي د اشتباه ښاغلي اثر ته د ارزاني له دې شعر نه ور پېښه شوې وي: دی په خوېشکو کې عزیز دوالد نوم یې برهان دی

خو دلته له عزیز نه په هیڅ ډول دا مقصد نه راوځي، چې دا دې دده نوم وي، بلکه د شعر نه د دوی معناوې اخیستل شي، یا دا چې د دوی کورنۍ په خوېشکو کې عزیزي یا عزیزخېل دي او یا یې مطلب دادی چې د دوی کورنۍ په خوېشکو کې یوه درنه او معززه کورنۍ ده.

(۳) : د ارزاني دیوان، ۸۸ مخ، د ... پښتو کتابتون لاس کښلې نسخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مخې د دې نسخې او یا پاڼې غزلې د رلو دې چې (۱۴۰) مخه کېدلې، (۱۴۰) پاڼې ځلوېنې وې چې دوه سوه اتیا مخه کېدلې، په هر مخ کې یې پنځلس کرښې وې، چې په دې شمېر یې ټول بیتونه شپږ زره کېږي. استاد حبیبي دا نسخه د پېښور په بالاهاړ کې د سید فضل صمداني په کتابتون کې لیدلې وه (۱)، د ده د دیوان یوه بله نسخه د برټش موزیم د پښتو په قلمي نسخو کې په (۴۴۹۶) نومره خوندي ده (۲)، ښاغلی رښتین دا نسخه دارزاني په خپل قلم کښلې (۳) خو د برټش موزیم په فهرست کې دا ټکی نشته، د دې دیوان د یوې نسخې نقل د بېنوا په کتابتون کې هم شته (۴)، د دې دیوان یوه نسخه د پېښور د موزیم په کتابخانه کې هم وه (۵)، د پېښور د پښتو اکېډمۍ په کتابتون او د محمد نواز خټک سره یې هم د دیوان نسخې شته (۶) او هم دارزاني دېرش غزلې ښاغلي همېش خلیل د ورکې خزانې په لومړي ټوک کې خپرې کړي دي (۷).

---

(۱) د استاد حبیبي قلمي یادداښت. (۲) د برټش موزیم د پښتو نسخو کتلاګ، ۵۹ مخ، ۱۹۶۵ ع کال

(۳) وګورئ: هېواد، ۱۹ کال، ۱۱۶ ګڼه، ۱۳۴۶ کال د زمرۍ ۲۴، د ښاغلي رښتین د پښتو د خطي نسخو فهرست

(۴) په دې لیکنه کې له همدې نسخې نه استفاده شوې ده. (۵) پښتو مجله لومړی کال، ٤ ګڼه د مولانا عبدالقدوس قاسمي مقاله، د بایزید روښان مذهبي افکار (۶) ورکه خزانه، لومړی ټوک ۳۹۱-۳۹۲ مخونه.

محمد نواز خټک دارزاني دیوان قلمي نسخه تر خپلې مړینې پورې اوونه وه او وړاندې د پېښور پښتو اکېډمۍ ته له خپلو ستر شمېر نورو آثارو سره وبخښله.

(۷) ورکه خزانه، ۱۸۲ - ۲۰۸ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارزاني د دېوان ټول شعرونه د تصوف او سلوک په باب دي او د وحدت الوجود درانه بحثونه يې په خوږه ژبه پکې رانغښتي او د کامل پير د موندنې سپارښتنه يې پکې کړې ده.

دی پخپله هم د خپل دېوان په باب وايي :

د فقير پښتو دېوان دی     دا دېوان حقاني خوان دی (۱)

بيا په همدې بولله کې وايي :

دی ريخته په څلور ژبو     دی بيان په څو الوان دی (۲)

او ورپسې د خپل دېوان محتويات پخپله پخپل شعر کې يادوي سره له دې چې ښاغلي همېش خليل په ورکه خزانه (۳) او استاد حبيبي د پښتو ادبياتو په تاريخ (۴) کې د ارزاني دا شعر د بايزيد روښان او خيرالبيان په باب ګڼلی او وايي چې ارزاني خيرالبيان ته دېوان ويلي دی ، خو د ده د دېوان له ژورې کتنې څخه ډېره ښه څرګندېږي چې فقير د ده ځان ته ويلي نه بايزيد روښان ته او پر دې سربېره ټولو روښاني شاعرانو له ځان سره د فقير کلمه راوړې او بايزيد روښان ته "مسکين" وايي نه "فقير".

د فقير دېوان پښتو دی     د سعدي دی له شيرازه

---

(۱): د ارزاني د دېوان، قلمي نسخه، ۶۵ مخ.

(۲): " " " " ۶۹ مخ.

(۳): وګوره: ورکه خزانه، لومړی ټوک، ۲۹۰ - ۲۹۱ مخونه.

(۴): وګوره: د پښتو ادبياتو تاريخ، دوهم ټوک، ۳۰۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی خپله وینا منطق الطیر هم بولي او د لوی کلام (قرآن)
پښتو تفسیر یې هم بللی دی :

دغه شعر دی لوستلی    پرخپل من منطق الطیر (۱)

* * *

دی د لوی کلام کلام دی    په پښتو کښلی تفسیر دی (۲)

## ۱۵/ ۲ - دارزانی بې نومه مجموعه :

دارزانی پښتو دیوان د په لاس کې نسخې له مخې په ۱۰۶ مخ
کې ختمېږي او په یوه رباعي کې وایي :

دا دیوان دلته تمام دی    کل د دین په اهتمام دی
چې د دین پښتو کلام دی    دی بیان له حق اسلام دی

بیا له « بسم الله الرحمن الرحیم » نه وروسته یوه بله مجموعه
پیلېږي چې تر بېلو بېلو سرلیکونو لاندې یې په پر له پسې
څلوریزو مطالب نظم کړي دی . تر اوسه په پښتو کې لومړی
شاعر دی چې په څلوریزو کې یې سره موښتي او اوږده مطالب
راوړي دي . د دې مجموعې سرلیکونه : « حمد ، نعت ، ادب ، مېوه -
داره ونه (خیر رسول) د حسین منصور وصف ، دژوند او -

---

(۱) : د ارزانی دیوان (قلمی نسخه) ۸۷ مخ
(۲) 〃 〃 〃 〃 〃

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مړه کېدلو بیان، نصیحت، اخلاص بیان، طمع، د پنځو بناء مسلماني بیان/ د شریعت بیان او له دې وروسته یې د روښاني تصوف اته پوړي څېړلي، د الله تعالی پاک نوم یادول، د فلک د گردش بیان، د مرگ بیان » اونور دي. دا مجموعه د دیوان له ۱۰۶ مخ نه وروسته چې دیوان ختم شوی شروع کېږي او بیا تر ۳۱۸ مخ پورې رسېدلې، خو بیا هم تر سره شوې نه ده او نوره نسخه نیمگړې ده، له دې نه ښکاري چې دا ارزانی دا مجموعه چې د روښاني لارې مهم مطالب یې پکې ویلي، د ده د دیوان نه زیاته او لویه وه.

## ۳/۱٦ - د حضرت رسول خوب:

د حضرت رسول خوب دارزاني بله لیکنه ده چې دیوې بې نومه قلمي مجموعې په اوومه برخه کې په ځانگړې توگه خوندي شوې ده(۱).

په دې نسخه کې په ۲۳ بېلو بېلو برخو کې د پښتو د پخوانیو وینا والو وینا وې راغلي دي او د کلتور او اطلاعاتو وزارت په خطي کتابتون کې ساتله کېږي(۲).

(۱) وگورئ: د پښتو پخوانۍ تذکرې، حبیب الله رفیع، د تاریخ او ادب ټولنې خپرونه، ٦٤ مخ.

(۲) د ن یاتې پېژندگلوي لپاره وگورئ: کتاب مجله، لومړی کال، لومړۍ گڼه (د ۱۳۵۲ کال وری - غبرگولی) د پښتو یوه نوې مجموعه، د لیکوال نکې مقاله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې رساله کې ارزانی د حضرت محمد (ص) یو خوب تشریح کړی دی :

داکیسه په دې څلوریزه پیل شوی :

(واوره) ای د آدم زویه    ورځ به د رښتیو لویه
که هغه خواري وویني    تا به پیل کاندي له زویه

* * *

او د پای څلوریزه یې داده :

ارزاني ولې نه ژاړې    خپل مقصود ولې نه غواړې
هری ستا د عمر شپې    څو ځې ولاړې دی څو ځې ولاړې

همدا کیسه د عبدالغنی کاسی په جونګ کې د « فقیر سلیمان »

په نامه راغلی ده (۱) دالفاظو په لږ تغیر خو له سبک ، جوړ ښت او څلوریزو توب

څخه یې ښکاره کیږي چې دیوه کی به یې ارزاني وي .

## ۴/۱۷ـ دارزاني نثر

دارزاني د نثر هم یوه کوچنۍ رساله شته چې دده له پښتو

دیوان سره یوځای وه او استاد حبیبي خو ښو نې تر ې کړې دی (۲) .

---

(۱) دا جونګ د بیانات افغانی په نامه په ۱۱۴۲ هق کال په ملتان کې د عبدالغنی کاسی په قلم کښل شوی او خطی نسخه یې دلیکوونکی په کتابتون کې خوندي ده .

دزیاتې پېژندګلوۍ لپاره وګورئ : ادبي ستوري ، دلیکوونکی تالیف ، ۱۳۵۲ ـ پښتو ټولنه .

(۲) دا یادښتونه ارواښاد استاد حبیبی ماته راسپارلي وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې نثر کې هم لومړی دیني مسایل او د اسلام پنځه بناوې ـ
بیان شوي دي ، بیا یې د روښانی تصوف اته مقامات پکې څېړلي،
وروسته یې روح څېړلی لکه : روح جاري، روح مقیم ، روح امین
روح قدسي او په دې پسې یې نور مسایل راوړي دي .

دا رنګ نثر د بایزید روښان په نسبت ډېر روان ، خوږ
او رنګین سره سم او سجع ډېره کمه پکې ده .

د دې نثر یوه کوچنۍ ټوټه به د نمونې په توګه ولولو:

« تر ذکر دې وړکه ـ د سړي اندامونه خدای کړي دي،
د هر اندام بخره شته ، ستر ګې خدای کتو لره کړي دي ، و
خله (خوله) خدای خبرو لره کړې ده ، او پوزه خدای دم
لره کړې ده ، او غوږ خدای اوریدو لره کړې دې او پښې
خدای یا نه لره کړې دي او زړه خدای یاد لره کړې دی چې هیڅ
دم د خدای له یاده مه یې تش نناسه او مه یې وباسه » .

## ۵/۱۸ ـ چهار رسا (؟):

اخوند درویزه په تذکرة الابرار کې ددې یو کتاب د ـ
« چهار رسا » په نامه هم یادوي(۱) چې استاد حبیبي په پښتانه شعراء
کې هم دا نوم راخیستی (۲) خو پوهاند رښتین د پښتو ادب تاریخ ـ

(۱) : تذکرة الابرار والاشرار ، ۱۴۹ مخ.

(۲) : پښتانه شعراء لومړی ټوک ، ۲۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې دانوم بې له کوم سنده «چار رساله - چار ربان» سنبو دلی (۱)، د ادبیاتو د تاریخ په کتاب کې یې بیا دا نوم د راوړتي په حواله «چهار رساله» کښلی دی (۲).

څرنګه چې د دې کتاب نسخې په لاس کې نشته نو نشي ویل کېدای چې اصلي نوم به یې څه وی، البته کېدای شي چې اخوند درویزه دا کتاب لیدلی وي نو ځکه یې «چهار رما» بللی دی.

## ۱۹-۲۰-۲۱-۲۱/۶-۸۷ - د ارزاني عربي، فارسي او هندي شعرونه

اخوند درویزه لیکي:

«ارزانی چون تېز فهم و فصیح زبان بود، در انواع ضلالت و بدعت شعر افغانی، فارسی و هندی و عربی بیان کرده» (۳).

ارزاني پخپله هم وايي:

دی ریخته په څلور ژبو     دی بیان په څو الوان دی (۴)

* * *

یا: هر غزل مې د دل تار دی     پې او بدلی دا چو تار دی

په څلور ژبو او بدلی     دا ارزاني افغان ګفتار دی (۵)

---

(۱): د پښتو ادب تاریخ، ۳۷ مخ.

(۲): د پښتو ادبیاتو تاریخ، صدیق الله رښتین، د ادبیاتو پوهنځی د څلورم ټولګي له پاره، د پوهنتون ګستنری چاپ، د ارزاني برخه.

(۳): تذکرة الابرار والاشرار، ۱۴۹ مخ.

(۴): د ارزاني دیوان، ۶۶ مخ.

(۵): د ارزاني په قلمی دیوان پورې نښتې مجموعه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حافظ عبدالقدوس قاسمي ليکي:

«ده په فارسي، هندي او پښتو درې ژبو کې شاعري کوله او په هره ژبه کې يې يو يو ديوان لرلو، د ده فارسي او هندي اشعار لا ورک دي (۱).

شاغلی همېش ليکي:

«ارزاني د خپل دور يو فصيح او بليغ شاعر و چې د پښتو نه يې علاوه په فارسي، عربي او هندي کې هم اشعار ويلي دي، بلکه په دغه درې واړه ژبو کې يې لکه د پښتو ديوانونه ترتيب کړي دي» (۲).

دا ټول څرګندوي چې ده هم لکه خپل پير ميا روښان غوندې په څلورو ژبو ويناکړې خو له بده مرغه چې د عربي، فارسي او هندي اشعار و بيلګې يې لا تر اوسه نه دي تر لاسه شوې او دا ديوانونه يې ورک دي.

## ۹/۲۲ - د ارزاني مګويات:

د روښانيانو ډېرې خبرې په رمز او اشاره دي او خصوصاً ارزاني هر ځای وايي چې زما خبره رمز او اشاره ده، نو پوره خبره نشم کولای او له ډار نه ئې حال نشم ويلای:

---

(۱) پښتو مجله، لومړی کال، څلورمه ګڼه (۱۹۵۹ ع).

(۲) ورکه خزانه، لومړی ټوک، ۳۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فقیر وینا د سر سره    رښتیا نه وایې د ترسه

نو په دې اساس د ده په شعرونو کې داسې خبرې هم راغلي چې هغه باید هرچا ته ونه شي، ځکه چې یې دا دیوان - ټتیاوه نو دا مګویات شعرونه به یې ترې بېل کړي او له ځانه سره یې خوندي کړي دي، په دې برخه کې دی پخپله صراحت کوي:

دال - د دې دیوان خبرې    ګل د زړه دی مرغلرې
وار په ګو (ی) یې دي پېیلي    ګل "مګوی" شوې ځنې لرې (۱)

او دا صراحت ښیي چې ده به د مګویات مجموعه بېله جوړه کړې او له ځانه سره ساتلې وي، کاش دا خبرې هم ترلاسه شوې وای چې د دوی د زړه له اصلي خبرو نه خبر شوي وای!

## ملا عمر (۲)

ملاعمر خوښکی دارزاني ورور دی، دی هم د علم او قلم څښتن ګڼل شوی، په تذکرة الابرار او حالنامه کې یې نوم راغلی او وروستیو اخځو هم یاد کړی دی.

(۱): د ارزاني دیوان، قلمي نسخه، ۹۶ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱/۲۳ - د ملا عمر شعرونه:

د ملا عمر شعرونه تر اوسه چېرې نه دي لیدل شوي، یوازې
استاد حبیبي د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې کتاب چې دده او دده
د بل ورور علي محمد په شعرونو به د دې اثر په دریم ټوک
کې خبرې وکړو (۱)، تر اوسه د پښتو ادبیاتو د تاریخ دریم
ټوک نه دی خپور شوی، نو ځکه د ملا عمر شعرونه د چا لاس ته
نه دي رسېدلي، له ما سره د عبدالغني کاسي د «بیانات افغاني»
په دوهمه برخه کې د عمر په نامه یو نظم شته، د دې جونګ
زیاتې وینا وې د روښانیانو ښکاري نو ځکه زه دا ټکل له مخې
دا شعر د «عمر روښاني» ګڼم او دا چې د فکر او محتوی له
مخې هم دا شعر د روښاني شعرونو د مکتب ښکاري، دا ټکل
لا پسې پیاوړی کوي، د دې شعر کسر دادی:

د ګور غه تنګه خونه، نې دریڅه شته نه یې ورونه
په ګور کې د بدانو ښادي نشته لوړ د لوړ عذابونه

## علي محمد (۳)

ملا علي محمد د ارزاني بل ورور دی، دی هم ښه ادیب
او د خوږې وینا خاوند دی، په تذکرة الابرار او حالنامه کې یې —

(۱) وګورئ: د پښتو ادبیاتو تاریخ، ۲۸۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوم راغلی او ور و ستیو اخځو نو هم سبو دلی دی.

## ۱/۲۴ - د علی محمّد شعرونه :

ما ته د عبدالغنی کاسی له جونګ نه د میا علی محمد په نامه هم یو نظم لاس ته راغلی چې په ادبي ستوريې کې مې خوندي کړی او اټکل کېږی چې دا شعر هم د ده دی (۱).

ځینې کسان د حالنامی بشپړو ونکی علی محمد مخلص او دا علی محمد یو بللی دی، خو څرنګه چې دا ر آنی پلار د ده د خیل صراحت له مخې برهان نومېده نو ځکه د دی علی محمد پلار هم برهان دی، سره له دې چې د حالنامې د راغونډونکی علی محمد پلار د ده د خپل صراحت له مخې اباېکر کنډهاری دی نو ځکه دواړه علی محمده یو تن نه دی او د مخلص تخلص هم باید د یوه له نامه سره مل کړو، نه د دواړو.

د عبدالغنی کاسی له جونګ نه د میا علی محمّد تر لاسه شوی شعر چې په قوي اټکل د همدې علی محمّد دی یو خاص ډول جوړ ښت لری، تصوفی مطالب پکې راغښتل شوي او د شعر جوړښت یې داسې دی چې په ویلو سره یې سړی د یوه خاص آهنګ احساس پکې کوی او دا ښیي چې دا او د نورو شاعرانو دې ته ور ته شعرونه به چې په دې -

---

(۱) : وګوری : ادبي ستوری، لومړی شاعر.

جونګ کې خوندي دي په خاصو صوفیانه حلقو کې په یوه خاص وزن ویل کېدل (۱) او چې یو ځل بېرته تر شا وګورو او د بایزید روښان له خوا د سرودونو د جوړولو په برخه کې - د ده له خوا د سلوک د سرود ایجاد را یاد کړو نو بیا دا اشکال هم کولای شو چې دا خاص ډول شعرونه به له همدغه سرود سره چې بایزید روښان ورته جوړ کړي وو، ویل کېدل او روحي تزکیه به یې ترې تر لاسه کوله (۲) او هم د دې جونګ هغه شاعران چې شعرونه یې د علي محمد دی شعر ته ورته دي، روښاني شاعران ګڼلای شو.

## (۴) میرزا خان انصاري

میرزا خان انصاري د بایزید روښان لمسی او د روښاني تصوف او لارې روښانونکی شاعر دی.

### ۲۵/۱ - د میرزا خان دیوان:

د میرزا خان انصاري دیوان د ډېرې برخې لري، د ده دیوان په لومړۍ برخه کې یوه اوږده الف نامه ده، بیا-

(۱): د دې صوفیانه حلقې په باب وګورئ: ادبي ستوري له ۱ - ۱۷ مخ پورې:

(۲): وګورئ: په همدې رساله کې د روښان د لیکنو او آثارو برخه.

بو للی (قصیدی) او ورپسې بدلې (غزلې) راغلي دي، د چاپي نسخې ټول پاڼې یې ۲۵۲ ټوټې دی(۱).

د میرزا خان انصاري د دیوان نسخې د لندن، پېښور، کابل او په ځینو نورو کتابخانو کې شته. څو نسخې یې په برټش موزیم کې خوندي دي، دوې نسخې یې د پښتو ټولنې په کتابتون کې، یوه یې د اطلاعاتو او کلتور وزارت په خطي کتابتون کې، یوه یې په کوټه کې د سیال کاکړ په کتابتون کې او یوه نیمګړې نسخه یې د لیکوونکي په کتابتون کې ده او نورې نسخې یې هم په بېلو-بېلو کتابتونو کې شته. یوه نسخه یې چې د دوو نسخو له مخې ترتیب شوې ده په څوا په ۱۳۳٤ هـ ق کال د کندهاري تاجرانو له خوا په لاهور کې د دیوان میرزا احمد افغاني په نامه خپره شوې ده، او همدا یې یوه نیمګړې نسخه هشتخلیل په پېښور کې خپره کړې ده او بیا یې نسبتاً بشپړ متن په ۱۳۵٤ هـ ش کال پښتو ټولنې د څو خطي نسخو تر مقابلې وروسته چاپ کړی دی. د ده د دیوان څو برخې د روسي ختیځپوه دورن په مجموعه کې هم خوندي دي (۲)، په چمن بې نظیر ګلشن روه کې یې هم د وینا څو بېلګې راغلي دي(۳).

---

(۱) د دې نسخې د زیاتې پېژندګلوۍ لپاره وګورئ: د زیري د ۱۳۵۲ کال په کلکسیون کې د لیکوونکي مقاله.

(۲): وګورئ: د دورن مجموعه «کریستوماتي» د ۱۸٤۷ ع کال چاپ ۲۵۲-۲۷۳ مخونه.

(۳): وګورئ د پښتو څواخذ تذکرې، د لیکوونکي اثر، وروستۍ برخه.

دمیرزا خان انصاري په شعر کې هم روښاني لاره او مسلك تشریح شوی دی او شعر ونه یې د ژبې له پلوه هم دارځښت وړ دي.

## (۵) - دولت لواڼـــی

دولت لواڼی د پښتو یو خوږ ژبی شاعر، د میا روښان مرید او د دیوان خاوند دی، اټکل کېږي چې د لسمې پېړۍ په دوهمه نیمایۍ کې به ژوندی وي.

### ۱/۲۶ - د دولت دیوان:

(۱) د دولت لواڼی نه یو لوی دیوان پاتې دی چې بدلې، بوللې، غزلې، دوه اینې (مثنوی) او د شعرونو د ولونه پکې خوندي دي، تر او سه لومړی شاعر دی چې په رکنی عروضو سم یې یاړ کي -
ویلي او مونږ ته را پرې ایښي دي (۱)، دده د دیوان یوه نسخه په برټش موزیم کې خوندي ده، دوې نسخې یې د هند درامپور په رضا لایبریری کې، یوه یې په کابل او بله د غزني دالبیروني په کتابتون کې ساتله کېږي (۲).

---

(۱): د تفصیل له پاره وګورئ: د دولت لواڼي د دیوان سریزه، د استاد رشاد لیکنه.

(۲): د دې نسخو پته ما ته کران ملګري ښاغلی زلمی هیوادمل له بېلو-بېلو اخځونو څخه تر لاسه کړې ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه نسخه یې د هند په لایبریرۍ کې شته (۱) او چاپي نسخه یې لومړی ځل د پښتو ټولنې له خوا د بایزید روښان د نړیوال سمینار په ویاړ زموږ لاس ته راورسېدله.

دده شعر هم لکه د نورو روښاني ویناوالو غونډې د تصوف او سلوک له بحثونو ډک او د روښاني لارې د روښانیانو په برخه کې لکه د نورو روښاني آثارو غونډې یو ګټور او د پښتو شعر خوندور اثر دی.

دده دیوان پنځه او په دریو دفترونو ویشل شوی دی، دی هم د نورو روښانیانو غونډې الف نامې لري او د شعر محتوی یې د نورو روښانیانو سره توپیر نه لري. دده قلمي نورې لیکنې تر اوسه نه دي پېژندل شوي او زموږ په لاس کې نشته.

## (۶) - علي محمد مخلص

علي محمد مخلص د ابابکر کندهاري زوی او د حالنامې راغونډوونکی یو روښاني لیکوال او شاعر دی. دی په روښاني شاعرانو کې زیات شهرت لري، میرزاخان انصاري او دولت روښاني یې یاد وړ کړی او د خوږې وینا خاوند یې ګڼلی دی.

---

(۱) د هند په کتابخانو کې د پښتو خطي نسخې، ۶۵-۶۶ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱/۲۷ - حالنامه :

په حالنامه کې بايزيد د روښان خپل حال ليکلی و (موږ مخکې خبرې پرې وکړې) بيا دا کتاب د اورنګزېب په وخت کې دده يو عالم مريد له سره راغونډ کړ او د روښانيانو پاتې احوالونه يې پرې ورزيات کړل. د حالنامې په يوازينۍ نسخه باندې چې د عليګړ په پوهنتون کې ساتله کېږي ليکل شوي:

«حالنامهٔ ميا روښان مشکل آسان از تاليف علوخان شينواری»

خو په سريزه کې يې د مؤلف نوم علي محمد کندهاری دابکر زی دی (۱).

ځينو اخځونو داسې علي محمد د ارزانی ورور بللی دی، خو د ارزانی او د دې علي محمد د پلرونو د نامه سره بېلتون دا خبره يې باوره کوي او موږ مخکې خبرې پرې وکړې.

همدا راز دا علي محمد مخلص د بايزيد انصاري د کورنۍ مريد او خادم کېني نه پخپله د بايزيد، سره له دې چې علي محمد د بايزيد د لارې او سنګر ملګری او کله چې روښان پېر ارزانی هند ته واستاوه نو علي محمد او ملا عمر چې د ارزانی ورونه وو، همدلته ورسره پاتې شول (۲). د حالنامې په سريزه کې — علي محمد په دې ټکو ليکي :

---

(۱) : کابل مجله، ۱۳۴۳ هش کال، د وهمه ګڼه، د ميا روښان حالنامه، د ښاغلی رښتين ليکنه.

(۲) : تذکرة الابرار، ۱۴۹ مخ (دا ټول چې ارزانی له بايزيد نه ولاړ، خو حالنامه وايي چې بايزيد واستاوه).

(c) ketabton.com: The Digital Library

«الحمد لله حمداً کثیراً ـ بعد حقیر فقیر علی محمد ابن ابا بکر قندهاري
مرید و خادم خاندان بایزید انصاري قدس الله سره العزیز...»(۱)
د حالنامې میکرو فلم د کابل پښتو ټولنې او د پېښور پښتو
اکېډمۍ ته راستېدلی او ښایي چې په سپړلو سره یې د روښانیانو
په باب ډېرې نورې تاریکۍ هم روښانه شي.

## ۲/۲۸ - د علي محمد مخلص دیوان:

میرزا خان انصاري او دولت لواڼي د مخلص مخلصانه ـ
یادونه کوي او شاعري یې ستایي. د ده د دیوان نسخې ډېرې
کمیابې دي، یوه نسخه یې په برتانش موزیم کې په (۶۷۵۶) نومره
خوندي ده (۲) او هم د روحاني رابطې او روښاني تړون کتاب
له اخځونو (مأخذونو) څخه ښکاري چې د مخلص د دیوان کومه
نسخه د دې کتاب له مؤلف سره هم وه او د ده یو نیم غزل یې
ترې راخیستی دی (۳).

## ۲۹/۳ - رساله:

دا یوه منثوره تصوفي رساله ده چې منظومې برخې هم لري
د دې رسالې یوه خطي نسخه د بنګال ایشیاټک سوسایټۍ په کتابتون ـ

(۱) کابل مجله، ۱۳۴۲ هـ ش کال، دوهمه ګڼه.

(۲) وګورئ: د برتانیا د خطي نسخو کتلاګ، د ۱۹۶۵ کال چاپ.

(۳) وګورئ: د روحاني رابطه او روحاني تړون.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې خوندي ده چې (۱۳) پاڼې لري او مخلص خپل نوم داسې ښکلې راوړی دی :

و «مخلص» ته يې ځرګند په هر آوان کــــه
مرګ، ژوندون، حشر، قيامت څو مقاما ســته (۱)

## (۷) واصل روښانــــي

واصل يو بل نامتو روښاني شاعر دی چې په يوولسمه هجري پېړۍ کې يې ژوند کاوه او د حالنامې هغه نسخه چې د دبستان مذاهب مؤلف استفاده ترې کړې، له ده سره وه او اتکل کېږي چې د ميا واصل روښاني او د دبستان مذاهب د مؤلف ليدنه کتنه تر ۱۰۵۷ کال وروسته او تر ۱۰۶۳ هـ ق کال نه مخکې شوې ده (۲).

### ۱/۳۰ - د واصل پښتو ديوان :

د واصل د اشعارو بشپړ ديوان لا تر اوسه لاس ته نه دی راغلی، خو د نورو روښاني شاعرانو د ديوانونو له مخې اټکل کېږي چې ده به هم لوی ديوان درلود. د واصل يوازې يوه بولله او پنځلس غزلې د ملا اختر له بياض نه د استاد

(۱) د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې، ۱۱ - ۱۲ مخونه.
(۲) وګورئ: د واصل روښاني د څو شعرونو سريزه، د استاد عبدالشکور رشاد په قلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالشکور رشاد په زیار تر لاسه شوی چې د واصل څو شعره و نصیحه نامه
د روښان سیمینار له پاره د پښتو ټولنې له خوا خپره شوې او هم
د واصل د دېوان یوه بشپړه نسخه ښاغلي هېوادمل د هند په
رضا لایبرېرۍ کې وموندله چې په ۱۱۸۶ هق کال ملا عطاءالله
لیکلې او (۹۸) پاڼې لري (۱).

## ۲/۳۱ - د واصل الفنامې:

د واصل درې الفنامې چې له الف نه تر یا پورې د مربع
په بڼه ویلې شوې دي او په هر بند کې یو یو حرف عرفاني
تفسیر لري د عبدالغني کاسي په جونګ کې خوندي دي چې
د کاتب الحروف په سریزه او تصحیح د کابل پښتو ټولنې له -
خوا په ۱۳۶۰ هش کال د کابل مجلې خپرې کړې دي.

## ۳/۳۲ - د واصل دري شعرونه:

پوهاند رشاد لیکي: د تاشکند په خطي کتابخانه کې د دېوان واصل
په نامه یو کتاب خوندي دی، د دې دېوان شروع داسې شوې ده:

منکشف شد تا رموز علم الاسماء مرا
ماسوی الله در نیاید در نظر اصلا مرا

د کتلاګ مؤلف ورته کښلي دي: « دا د یوه هندي شاعر -

(۱): د هند د کتابخانو پښتو قلمي نسخې، ۱۰۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پارسي اشعارو مجموعه ده (۱) مونږ چې دې ته وګورو چې روښانيانو په خپلو ليکنو کې لاى شوي نو ويلاى شو چې ښايي و اصل به د دې شعرونه هم ويلي وي، خو بيا هم څو دا نسخه ونه کتله شي پر يکړى حکم نشو کولاى .

# (۸) خواجه محمّد روښاني

خواجه محمّد يو بل روښاني شاعر دى چې په حالنامه کې يې يادونه شوې ده .

## ۳۳ / ۱ - د خواجه محمّد شعرونه :

د حالنامې په ۴۰۹ مخ کې د خليفه خواجه محمّد شعرونه راغلي دي، سره له دې چې د اشعارو کاتب غلط ليکلي خو بيا هم لوستل کېداى شي، ځ به يې کند هاريه ده او د شعرونو بحر يې لنډ دى (۲) .

ما ته يو جونګ لاس ته راغلى چې په پښتو، کې ښايسته خان نومي کښلى دى، په دې جونګ کې د خواجه محمد په نامه يا کې خوندى وو، د اشعرونه دوه دوله وو، يو دول يې لنډ بحر کې په يوځاى

---

(۱) : وګورى : د هندې شعر ونو سريزه ، ۱۶ مخ .

(۲) : روښانيان يا د مغلو تاريکيان ، ۱۱۶ مخ .

ډول ليکل شوی وو، چې دواړو ډولو بیلی - بیلې بڼې درلودې او دیوه شاعر نه ښکاریدل ، خو کله مې چې د خواجه محمد بنګښ له دیوان سره مخامخ کړل نو ډول هلته وموندل شول . او س چې دا موضوع را بیرته کیږي نه فکر کوم چې دا خاص ډول شعرونه دي چې په لنډه بحر کې ویل شوي دي ، همدی خواجه محمد وي چې د کتاب او راغونډوونکي له خوا به د بنګښ په دیوان ورګډ شوي وي او یا هم څرنګه چې خواجه محمد بنګښ پخپله د تصوف او سلوك د لارې لاروی و، نو ښايي چې دی به د بایزید پیر روښان د کور نۍ مرید و، دا خبره په دې هم پیاوړې کیږي چې بنګښ د بایزید روښان مخلصانو او خصوصاً د ده دا یو بیت خو دا اټکل لا پسې پیاوړی کوي:

پیر روښان د میان علی د میان پنجوشه

هسې پوړ ته پسې تللی د انځیر دی (۱)

او هم خواجه محمد بنګښ د حالنامې د راغونډوونکي معاصر او د واړه د اورنګ زیب په خت کې لا ژوندي وو.

## کریمداد (۹)

کریمداد د روښاني کورنۍ یا روښاني لارې یو تکړه غړی دی چې د دیوان تر لاسه کیدلو یې له نورو کې نه راوی پوست ، فکر کیده چې دی به د جلال الدین زوی کریمداد (چې د بایزید روښان لمسی دی) وي، خو په پارسي کلام کې یې د « بنګښ » تکي دي -

---

(۱) د خواجه محمد بنګښ دیوان ، ۱۲۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دی خیال ما ته ورانه ښکاري ده (۱)،

## ۱/۳۴- دکریمداد پښتو شعرونه:

دکریمداد روښانی د پښتو شعرونو نیمګړی دیوان تر لاسه شوی چې د انډیا آفس لندن په کتابتون کې ساتل کیږي، له دې دیوانه دپښتو پښتو اکیډمۍ نقل اخیستی او خپور کړی یې دی (۲).

د دیوان .... نوټ پوري . سپېڅلي او دانګاروي چې دده دیوان یوه برخه حتی زیاته برخه نیمه خواشوي ده، ځکه موږ وینو چې د اکثرو شاعرانو دیوانو ... په دیفو کې ډېري غزلي خوندي کیږي.

دکریمداد شعر خوږ او روان دی، ځای په ځای یې لکه دنورو روښانیانو غوندې دکامل پیر وجود ضروري ګڼلی او باید روښان یې ددین سقراط بللی دی (۳).

## ۲/۳۵- دکریمداد پارسي وینا:

دکریمداد د پښتو دیوان په پای کې د ده پارسي وینا هم—

---

(۱): دکریمداد د دیوان سرېزه،

(۲): دا دیوان د پښتو اکیډمۍ له خوا په ۱۹۶۳ کال په سلو مخو کې چېو شوی او په سریزه کې یې دده په باره کې او وینا عالمانه او محققانه رڼا اچول شوې ده.

(۳): دتفصیل له پاره وګورئ: دکریمداد دیوان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلي ده او ښايي چې پاړسي وينا يې هم تر قوله نه وي ترلاسه شوې او له منځه تللې وي.

د کريمداد په دري شعرونو کې د ده نوم نشته بلکه د عيشي په نامه راغلي دي او هم په دې شعرونو کې ځان عيشي بنگښي بولي خو ځرگنده نه ده چې د دې ديوان مصحح ښاغلي خيال بخاري.

دا کلام ديواني له دې امله چې د کريمداد له ديوان سره موښتي راغلی، د ده بولي او که بل کوم دليل هم لري.

په هرحال تر اوسه دا وينا هم د ده بلله کېږي او موږ يې د کريمداد پاړسي وينا بولو.

# قادرداد روښاني (۱۰)

قادرداد هم يو روښاني شاعر او د خوږې وينا څښتن دی، د ورکې وينا راپيداکېدو او په خيبر ادب او «ورکه خزانه» کې يې خوندي کېدلو دادب په نړۍ وپېژانده، دی هم د روښان د کورنۍ غړی او د ده کودی ؤ (۱۱).

## ۱/۳۶ - د قادرداد شعرونه:

د قادرداد تر قوله وينا لا تر اوسه نه ده ترلاسه شوې، يوازې ـ

---

(۱۱) : د کورنۍ : ورکه خزانه، ۳۹۴، ۳۹۵، ۳۹۶ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلس پارکي يې په ورکه خزانه کې راغلي دي ، شعر يې خوږ، روان او د روښانې لارې روښانونکی دی او هم دده په شعر کې د مينې سوي تراڼې راغلي او پر روښاني ادب يې عشقي وينا هم ورزياته کړې ده(۱) .

## (۱۱) اورکزی

اورکزی هم د روښانيانو يو متأخر شاعر دی چې د دولسمې پېړۍ په دوهمه نيمايي کې يې ژوند کاوه، دده وينا لومړی ځل د خيبر ادب او بيا د ورکې خزانې خوندي کړې ده. اورکزی يې نوم نه ښکاري ، برېښي چې دی به په قام اورکزی ؤ ، معلومه نه ده چې د ده نوم به څه ؤ ، په کوټه کې د ښاغلي سيال کاکړ په کورني کتابتون کې د قابل اورکزي په نامه يو ديوان خوندي دی چې د احمدشاه بابا په وخت کې يې ژوند کاوه (۲) او له روښاني اورکزي سره يې د ژوند وخت يو دی نو کېدای شي چې قابل اورکزی هم د روښاني ـ

---

(۱) د ده د وينا او دده د پېژندګلوۍ له پاره وګورئ: خيبر ادب ، مراد شينواری ، ۱۹۵۸ع کال ، له ۳۶ تر ۴۲ مخ پورې ، ورکه خزانه لومړی ټوک ، ۱۹۴۴ع ، له ۲۰۹ تر ۲۲۲ او ۳۹۴-۳۹۵-۳۹۶ مخونه .

(۲) : دا خبره ښاغلي سيال کاکړ راته کړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورکزی وي، خو بیا هم دا خبره هله سپیندي شي چې د قابل اورکزي دیوان ولوستل شي.

## ۱/۳۷ - داورکزی شعرونه:

اورکزی د دیوان خاوند ښکاري، خوا ن عشقي شعرونه لري، خو موږ ته یې د کوټو په شمېر شعرونه لاس ته راغلي دي، (د) روښانه لارې تکړه لاروی او د روښان پیر کلک علاقمند دی، وایي:

راهد د بایزید مسکین کړه په تقوی کې مې متین کړه
دعقبې د معاش فکر، هم د ده په رهبری کړم

# شیخ آدم روښاني (۱۲)

آدم د پښتو لرغوني دیوان لرونکی شاعر دی چې په یوولسمه هجري پېړۍ کې یې ژوند کړی او د اشنغر په شاوخوا کې استېدلی دی، داورنګ زېب د واکمنۍ په وخت کې یې ژوندکاوه او خواږه شعرونه یې ویلي دي.

## ۱/۳۸ - د آدم دیوان:

له آدم نه یو بشپړ دیوان پاتې دی چې نسخه یې بېګرتیاوې او لوبډلې لري، ترلاسه شوې پاڼې یې ۱۰۸ دی او ترلاسه شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وینایي دوو نیمو نورو بیتونو ته رسېږي او وايي :

د دو بین قلا بهکرم پیکې د ړ ي و ړ ي

برکت مې په اوازکې د کامل شسته (۱)

# (۱۲) میرخان روښاني

میرخان هم یو لرغونی روښاني شاعر دی چې میرزا۔ حنان د روښاني شاعرانو په ډله کې یاد کړی دی او د دولت په دیوان کې یې یوې اوږدې قصیدې ځای نیولی دی.

## ۱/۳۹ - د میرخان دیوان :

د میرخان د دیوان یوه نسخه په تاجکستان کې له عبدالغني میرزایف سره وه چې تر او سه سپړله شوې او خپره له شوې نه ده (۲).

---

(۱) ادبي ستوری ، دلیکوال اثر ، دنوهم توک ، ۱ - ۲۴ مخونه .

(۲) هماغه پورتنی اثر ۲۵ - ۲۸ مخونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(٤)

# روښاني دوله لیکنې

روښانیانو په پښتو ادب کې داسې لاره پرانستې ده ، چې حتی د ده مخالفانو هم په دې لاره تللو ته ډېره نشوی کولای اخوند درویزه ځان مجبور ګڼه چې لکه د بایزید روښان غوندې مسجع نثر ولیکي او زامنو او ملګرو خو یې پخپلو لیکنو کې حتی په هغه لاره هم پل ایښی چې درویزه هغه د بایزید روښان د کفر دلیل ګڼه لکه وحدت الوجود چې د درویزه د زوی د کریمداد په وینا کې هم په ډکه خوله تائید شوی او داکار هم ثابتوي چې له روښانیانو سره د درویزه یانو مخالفت د دین او عقیدې په اساس نه بلکه د پردو او د پښتنو د ښمنو په لمسه ؤ.

له دې نه چې تېر شو د پخوانیو وینا او الوحیني داسې وینا ؤ هم شته چې ظاهراً خو د روښان پیر او روښاني لارې یاد ونه نه لري ، خو د وینا الفاظ او معنی یې دا شاهدي ورکوي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د ا و ینا وال هم د روښاني روښانه لارې لاروي دي او -
دلته دځو همدغسې و یناوالو د و یناوو او لیکنو یادونه کېږي .
نه اټکل کوم چې داکسان هم روښانیان وو خو څرنګه چې د وینا وو
په ترلاسه شویو نمونو کې یې صراحت نشته نو ځکه پرېکړې
حکم نه پرې کوم او دا ورځو او پلټونو څېړنو په هیله یې ددې
لیکنې په لمنه کې لنډ یادونه را اخلم :

# (۱) اخوند میاداد

اخوند میاداد د پښتو صوفي شاعر دی چې د اټکل له مخې یې
په یوولسمه پېړۍ کې ... ش وند کاوه ، موږ په روښاني
شجره کې د بایزید روښان یوولسمی چې د جلال الدین نومی دی ،
د میاداد په نامه پېژنو او هم د روښان په پلار ځنه شجره کې د ده
یو د تره کړوسی هم میاداد نومېږي .

## ۱/٤۰ - د میاداد شعرونه :

د میاداد یو هغه شعر چې د عبدالغنی کاسي له جونګ نه
زمالاس ته راغلی دی روښاني جوله لري او د خاصی صوفیانه
حلقې (چې مخکې یاده شوه ) سره اړه لري ، همدارنګه د ده څو
شعرونه د ملا ښایسته خان په جونګ کې هم شته (چې ما په
ادبی ستورې کې خوندي کړي دي ) قاضي عبدالحلیم اثر د ـــــ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دشیخ رحمکار کاکا صاحب خلیفه ګڼلی او د اتمانزو یې ښودلی دی، دده د ژوند زمانه یې له ۱۱۰۰ هق کال نه راوروسته اټکل کړې ده (۱) زه له دې کبله چې دده یوه ټولاسه شوی شعر د خاصې صوفیانه خلقې سره اړه لري اټکل کوم چې اخوندمیاداد به روښانی شاعرو، دده د دیوان یوه نسخه په کوټه کې د ښاغلی سیال کاکړ په کتابتون کې خوندي ده (۲) نو کله چې دا نسخه وڅېړل شي امکان شته چې داسې ټکي تر لاسه شي چې دده په روحانیت سربېره دده روښانیت هم ترې ترګوتو شي.

# (۲) شیخ فرید

شیخ فرید هم لرغونی شاعر دی او د وینا یې نمونه (ن ا) پاتې دي.

## ۱/۴۱ - دشیخ فرید شعرونه:

دده یو شعر ښاغلی اش په خپل تېر هېر شاعران کې خوندي کړی او له یوه هغه جونګ نه یې چې په قصور کې لیکلی شوی، راخیستی دی.

خرنګه چې له یوې خوا په تېر هېر شاعران کې (۳) دده

(۱): تېر هېر شاعران، اش، له ۲۹ مخ نه وروسته.

(۲): دا خبره سیال کاکړ راته کړې ده.

(۳): تېر هېر شاعران، ۲۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلی شعر د روښانی صوفیانه حلقې د شعرونو په چوکاټ کې ویل شوي او له بلې خوا په روښانیان د مغلو تاریکیان (۱) کې د شیخ فرید په نامه یو سړی د میا روښان له مریدانو څخه ګڼل شوی نو ځکه اټکل کېږي چې دا شاعر به هم روښانی او د روښانیت د روښانه لارې لاروی وي.

# (۳) اخوند مصري

## ۱/۴۲ - د اخوند مصري شعرونه:

د عبد الغنی کاسي په جونګ کې د اخوند مصري یو شعر خوندي دی چې د روښاني خاصې صوفیانه شاعرۍ شعرونو په چوکاټ کې ویل شوی او ما په ادبي ستوري کې (۲) خوندي کړی دی، د ده دا روښاني ډوله شعر ښيي چې اخوند مصری به هم روښانی شاعر وو.

# (٤) آدین

## ۱/۴۳ - د آدین شعرونه:

د کاسي په جونګ کې د آدین په نامه هم د خاصې صوفیانه -

---

(۱) د روښانیان د مغلو تاریکیان ۱۵۳ مخ (۲) : ادبي ستوري، ۱۲- ۱۳ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حلقې يو شعر شته چې ما په ادبي ستورې کې خوندې کړې دی(۱)
فکر کېږي چې د اشاعر به هم د روښان دلارې تلونکی وُ .

# آزاد (۵)

## ۱/۴۴ - د آزاد شعرونه :

د آزاد يو شعر چې د صوفيانه حلقې د شعرونو په خاص
چوکاټ کې ويل شوی د کاسي په جونګ کې خوندي دی او ماترې
راخيستی (۲)، د شعر بڼه او د فکر د ولې دواړه ددې اټکل لاره
هواروي چې آزاد دې روښاني شاعر وي .

# سعيد (۶)

## ۱/۴۵ - د سعيد شعرونه :

دولت روښاني شاعر په يو بيت کې د ارزاني ، ميرزا ، او
مخلص روښاني شاعرانو له نومونو سره د احمد او سعيد
نومونه هم راوړي :

---

(۱) : وګورئ : ادبي ستوري ، ۱۵ مخ .

(۲) : همدا اثر ، ۱۷ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ارزاني ، ميرزا ، مخلص ، احمد ، سعيد دي (۱)
او د اشني چې احمد او سعيد هم روښانی شاعران وو ، خو
وينا يې چيرې نه وه ، د کاسي په جونګ کې د سعيد په نامه
يو تصوفي شعر خوندي دی چې ما په ادبي ستوري کې د سعيد -
خليل په شعرو کې راوړی دی (۲) ، خو دده د شعر جوله او د
دولت شاعر دا پوره تنی بيت د دې اټکل ځای پيدا کوي
چې دا شعر د ې دهدې سعيد وي او نه د پير بکړ و سندو نو
ترپيد اکيد و پوري په دې باب پريکړی حکم
نه کوم .

## احمد (۷)

### ۱/٤٦ - د احمد شعرونه :

د دولت په پوره تنی بيت کې د احمد نوم هم شته ، چې -
ښايي دا به هم روښانی شاعر ئ ، د وينا پته يې چيرته
نه وه ، خو د کاسي په جونګ کې د احمد په نامه يو شعر
خوندي دی او له بخه نه يې سبکاري چې دا شعر به د روښاني -

(۱) : وګورئ : د دولت لواڼي ديوان .

(۲) : وګورئ : ادبي ستوري ، ۴۲ - ۴۳ مخونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکري مکتب او د همدې احمد شاعر وي ، د دې شعر لوړي بيت داسې دی :

جنت يې روغ کړ په زړګونه     چې پکې ناستې د جنتجونه

په هر حال د دې کسانو په باب پرېکړې حکم نه کوم ، د دوی وينا وې روښانې ړوله او دوی روښان ړولـه وينا وال بولـم او باوري يم چې د پښتو ادب د مينا نو راتلو نکې ادبي هڅې او څېړنې به دا موضوع ښه روښا نـه کـړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دې رسالې اخځليک

۱ - خیر البیان د بایزید روښان، عکسي چاپ، کابل، د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځی، ۱۳۵۳ ش

۲ - خیر البیان، د بایزید انصاري، د پښتو اکېډمۍ خپرونه، د حافظ عبدالقدوس قاسمي په سریزه، ۱۹٦٤ ع.

۳ - د دولت دیوان، د استاد رشاد په سریزه، د پښتو ټولنې خپرونه ۱۳۵۴ ش

٤ - د واصل روښاني شعرونه، د پوهاند عبدالشکور رشاد په سریزه، د پښتو ټولنې خپرونه، ۱۳۵۳ ش.

۵ - د روښانیانو یوه بې نومه قلمي مجموعه، د مرحوم دوست محمد بریخ د کتابخانې، اوس د پښتو ټولنې د کتابتون.

٦ - په ۱۱۴۲ کال کې د عبدالغني کاسي لاس کښلی مخزن، د لیکونکي د کتابخانې.

۷ - په ۱۱۴۲ کال کې د عبدالغني لاس کښلی (بیانات افغانی) «دوه ټوکه» د لیکونکي د کتابخانې.

۸ - مخزن، د پښتو اکېډمۍ خپرونه، د کاکاخیل په سریزه، ۱۹٦۹ ع.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹ - د ارزانۍ د قلمي دېوان يو نقل، د بېنوا د کتابخانې، ۳۱۸ مخه.

۱۰ - د ارزانۍ د نثر نقل، د استاد حبيبي د کتابتون.

۱۱ - دېوان ميرزا هد افغانى په ۱۳۳۴ هـ ق کال کې د کندهاري تاجرانو له خوا، د لاهور چاپ.

۱۲ - د ميرزا خان د دېوان يوه نيمگړې قلمي نسخه، د ليکوال کتابتون.

۱۳ - د ميرزا خان انصاري دېوان، د هېبتش خليل چاپ، ۱۹۵۹ ع.

۱۴ - دېوان کريمداد، د پښتو اکېډمۍ خپرونه، د خيال بخاري په سريزه، ۱۹۶۴ ع.

۱۵ - تذکرة الابرار والاشرار، د اخوند درويزه، د نشر و اشاعت سرحد خپرونه، ۱۹۶۰ ع.

۱۶ - دېوان خواجه محمد بنګښ، د پښتو اکېډمۍ چاپ.

۱۷ - د ملا ښايسته خان قلمي جونګ، د ليکوال کتابتون.

۱۸ - صراط التوحيد، د ادارهٔ اشاعت سرحد خپرونه، ۱۹۵۲ ع.

۱۹ - د پښتو يوه بې نومه قلمي مجموعه، د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د خطي کتابتون.

۲۰ - د روسي پوهان انتخابات، د ميرزا د شرقي برخه، ۱۸۴۷ ع.

۲۱ - د پښتو ادبياتو تاريخ، دوهم ټوک، د استاد حبيبي، ۱۳۴۲ ش کال.

۲۲ - د روښانيانو ملي نهضت، د اسلانوف، د ښاغلي محمد اکبر معتمد ژباړه، د پښتو ټولنې خپرونه، ۱۳۵۳ هـ ش.

۲۳ - د پښتو ژبې ژوندۍ لارې، پښتو اکېډمۍ.

۲۴ - د پښتو ادبياتو تاريخ، ښاغلي رښتين، د ادبياتو پوهنځي، گستتنري چاپ.

۲۵ - تاريخ مختصر افغانستان، استاد حبيبي، دوهم ټوک، ۱۳۴۹ هـ ش.

۲۶ - روښانيان د مغلو تاريکيان، عبدالاکبرخان اکبر، پېښور.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۷ - روحاني رابطه او روحاني تړون، قاضي عبدالحليم اثر، پېښور، ۱۹۶۵ع.

۲۸ - پښتانه د تاريخ په رڼا کې، سيد بهادر شاه ظفر کاکاخيل، پېښور.

۲۹ - افغانستان در مسير تاريخ، مير غلام محمد غبار، ۱۳۴۶، کابل چاپ.

۳۰ - د پښتو د ادب تاريخ، بناغلی رښتين، کابل، ۱۳۲۵ ش.

۳۱ - ورکه خزانه، همېش خليل، دوهم ټوک، ۱۹۶۰ع، پېښور.

۳۲ - ورکه خزانه، همېش خليل، لومړی ټوک، ۱۹۶۰، پېښور.

۳۳ - تېر هېر شاعران، قاضي عبدالحليم اثر، ۱۹۶۳ع پېښور.

۳۴ - د خيبر ادب، مراد شينواری، پېښور، ۱۹۵۷ع.

۳۵ - پښتانه شعراء، لومړی ټوک، استاد حبيبي، ۱۳۲۰ ش، کابل.

۳۶ - ادبي ستوري، حبيب الله رفيع، پښتو ټولنه، ۱۳۵۲ ش، کابل.

۳۷ - د پښتو ښځو الې تذکره، حبيب الله رفيع، تاريخ ټولنه، ۱۳۵۰ ش، کابل.

۳۸ - کابل مجله، د ۱۳۴۳ ش کال، لومړی ګڼه، د ښاغلي رښتين مقاله.

۳۹ - پښتو مجله، د پېښور پښتو اکېډمي، لومړی کال، څلورمه ګڼه
د حافظ عبدالقدوس قاسمي مقاله.

۴۰ - پښتو مجله، د پېښور پښتو اکېډمي، ۲ کال، څلورمه ګڼه، د
ډاکټر محمد شفيع لاهوري د مقالې: (بايزيد انصاری) پښتو ژباړه،
(د مولانا عبدالقدوس په وسيله).

۴۱ - آريانا مجله، ۲۸ کال، ۶ ګڼه، دار واښاد دوست محمد برېښ -
ند روښان د مکتب ديوه ناپېژندلي کتاب، تر سرليک لاندې مقاله.

۴۲ - کتاب مجله، لومړی کال، لومړۍ ګڼه، د ليکونکي «د پښتو يوه -
بې نومه قلمي مجموعه» مقاله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤٣ - هیواد، ۱۳۴۶ کال، نمری، د ښاغلی رښتین د قاموسي نسخې د پیژندګلوۍ مقاله.

٤٤ - د بریتانیا د کتابتونو د پښتو خطي نسخو کتلاك، لندن، ۱۹۶۵ ع.

٤٥ - د ارواښاد استاد پوهاند عبدالحي حبیبي یادداشتونه.

٤٦ - د پیاوړي فولکلوریست او په پښتو مین لیکوال ښاغلي ولي محمد سیال کاکړ یادداشتونه.

٤٧ - د ښاغلي زلمي هیوادمل یادداشتونه.

٤٨ - دهند د کتابخانو پښتو خطي نسخې، زلمي هیوادمل، ۱۳۶۳ ش.

٤٩ - ادبي ستوري، دوهم ټوك، ۱۳۵۹ ش، کابل.

٥٠ - خیرالبیان، د حبیب الله رفیع په سریزه، د قاسم بنو چاپ، ۱۹۸۵ ع، پېښور.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**